

# آواز

RTA

از انتشارات رادیو تلویزیون ملی افغانستان

- سرلیک ...
- حرفهٔ خبرنگاری ...
- دسینما د هنر [illegible] ...
- اهمیت طراحی ودیزاین ...
- کتاب اوفرهنگ ...
- صحبت اختصاصی با وحیدقاسمی ...
- تأثیرگذاری نقدبرروال سینمای افغانی ...
- ستدیوهای تلویزیون ...
- ژونالیزم ...
- شناسایی کارمندان موفق ...

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیئت رهبری رادیو تلویزیون ملی افغانستان ومدیریت مجله آواز گزینش جلالتمآب داکترسید مخدوم رهین
رابه حیث وزیر اطلاعات وفرهنگ کشور تبریک گفته خواستار بهروزی وکامگاری شان درعرصهٔ پیشبرد وظایف هستند.

(c) ketabton.com: The Digital Library




بسمه تعالی

صاحب امتیاز : رادیو تلویزیون ملی

تحت نظـــر : داکتر عبدالواحد نظری ، جاوید فرهاد و شمـــس راد

مدیرمسؤول: لمیه احمدزی

تایپ : خانم فاطمه هاشمی

گرافیک و دیزاین : غلام مصطفی حمیدی

نشانـــی : وزیر محمد اکبر خان ســـــرک ۱۳ ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی

تیلفـــون :۲۱۰۳۱۶٤

تـــیراژ : ۱۰۰۰

ایمل ادرس: Awazrta@yahoo.com

آواز در ویرایش و کوتاه کردن نوشته ها آزاد است.

شرح پشتی : سیتا قاسمی

چاپ : مطبعه آزادی

PROPERTY OF ACKU
S1102

S1102

## دربرگ های این شماره

- سرلیک
- رویدادهای فرهنگی
- حرفهء خبرنگاری
- کتاب اوفرهنگ
- دسینما دهنر مُخینه
- جغرافیای یک غزل
- صحبت اختصاصی با وحید قاسمی
- دغزَ چینه
- نیم نگاهی برسیرسینما افغانی
- طلا تپه
- اهمیت طراحی ودیزاین
- تأثیرگذاری نقد بر روال سینمای افغانی
- شناسایی کارمندان موفق
- سناریو به ...
- ستدیوهای تلویزیون
- البوم هنری ، صفحه شعر ودیگر مطالب ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرلیک

د افغانستان ملي راډيو تلويزيون ورځ تر بلې د خپلو هيوادوالو د غوښتنو او وړانديزونو په پام کې نيولو سره سم، د پراختيا او بري په لور ګامونه اخلي. دا مهال د هيواد په کچه ګڼ شمير خصوصي تصويري او غږيزې رسنۍ د فعاليت په حال کې دي خو ملي تلويزيون پدغه ډګر کې دځانګړتياوو او نوښتونو پر مټ اوس هغه بريد ته رسيدلی چې د خپلو مينه والو او په هيواد مينو افغانانو قناعت ترلاسه کړي. ملي راديو تلويزيون پدې وروستيو کې خپلو موخو ته د رسيدو لپاره د افغانستان د اسلامي جمهوريت د ولسمشرۍ د ټاکنو په برخه کې نه ستړې کيدونکې هلې ځلې وکړې، پدغه بهير کې د راډيو تلويزيون کارکوونکي د هيواد ټولو ولايتونو ته ولاړل او هلته يې له خلکو سره مخامخ وليدل، د هغوی ستونزې ، غوښتنې او وړانديزونه يې وخت په وخت خپاره او د چارواکو تر غوږو ورسول. ملي راډيو تلويزيون پدغه ملي پروسه کې مهمه ونډه واخيسته او خپل رول يې په ملي کچه ترسره کړ.

د افغانستان ملي راډيو تلويزيون خپلې دغه لاسته راوړنې کافي نه بولي او هڅه کوي چې لاهم د هر افغان تر زړه ورسيږي او د ګوريدلو هيوادوالو غوښتنو ته ځان ورسوي، همدې موخې ته د رسيدو لپاره پدې وروستيو کې ملي راډيو تلويزيون وتوانيد چې د هيواد په دوو لسو ولايتونو کې خپلې سيمه ايزې نشراتې دستګاوې فعالې او خپرونې پيل کړي، او س پدغو سيمو کې زمونږ هيواوال کولی شي چې په عادي انتنونو سره د هيواد او سيمې وروستي حالت، پرمختګ،ستونزو ،د يو او بل د ژوند له څرنګوالي خبر او ټولې خپرونې په رڼه بڼه وګوري.

لدې سره جوخت د چارواکو د هلو ځلو له مخې ملي راډيو تلويزيون اوس د يوې بلې ۴۰ متره ټاور په درولو سره دلنک سيستم يا دکمرو په نصب او فعالولو سر ه توانيدلی چې د کابل ښار له بيلابيلو سيمو څخه ځينې مهمې پيښې او کنفرانسونه په ژوندۍ بڼه خپاره کړي .

که څه هم چې ملي راډيو تلويزيون اوس په نويو او پرمختللو تخنيکي وسايلو سمبال شوی او لا هم د سمباليدو په حال کې ده نو چارواکو د هلو ځلو له مخې د راديوتلويزيون کارکوونکو ته وخت په وخت له نويو تخنيکي وسايلو او د ژورناليزم له اساساتو سره د بلدتيا لپاره ښوونيز او روزنيز ورکشاپونه جوړ شوي او اوس کارکوونکو دا وړتيا ترلاسه کړې چې په ټولو نويو وسايلو مسلکي ګټه واخلي او په خپلو ټولو خپرونو کې مسلکي اصول او قواعد په پام کې ونيسي. پردې سربيره ملي راډيو تلويزيون غواړي چې نوي کال په رارسيدو او بهير کې خپلې خپرونې لا اغيزمنې او د هيواوالو ټولې اړتياوې پکې په پام کې ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رویداد های فـــــرهنگی



## مدال افتخاری استقلال

مقام محترم وزارت اطلاعات و فرهنگ ده واحد مدال افتخاری را به مناسبت نودمین سال روزاستقلال کشــــورکه نمایی از«طاق ظفر» وشعاع افتاب دران حک گردیده به ۱۰ کارمندا.

هــــریک : لمیه احمدزی مدیر عمومی مجله آواز، سید محمد صدیقی مدیرعمومی مطالعات تخنیکی ، انجینیر غلام جیلانی مدیر عمــومی بررسی پــروژه های آمــــریت پلان، مسعود مولایی مدیرعمومی اطلاعات رادیو افغانستان ، دوست محمد مدیر عمـــومی روزنــــهء تلویزیون ، شیر محمد ترابی مدیر عمومی آرت و گرافیک،عبدالرزاق مدیرتهیهء داخلی ، همیشه گل مدیر عمومی آمــریت ولایات ، محمد الله عضـــــو آمریت معارف اســـلامی وخانم فروزان مدیر عمومی برنامهء ازبیکی ، که خدمات صادقانه وارزشمند را در زمینهء کاری انجام داده اند، توسط داکتر عبدالـــواحد نظری رئیس عمومیِ رادیو تلویــــزیون ملی افغانستان و سید نادر احمدی معاون ریاست عمومی تفویض نمود.

## دکابل تاریخی ښار د ۲۰۲۴ کال لپاره داسلامي نړۍ دفرهنگی پایتخت په توگه وټاکل شو.



دکابل ښـــــارچی ویل کیـــــــــــــــــــــړي پنځه زره کلن تاریخ لـــــــري د تلی یا میــــــزان د میــــاشتی په ۲۵نیتـــــــه دآذر بایجـــــان په پایتخت کي داسلامي هیوادونو دفـــــــرهنگ دوزیرانو په شپــــــــــــــړمه غـــــونډه کي د ۲۰۲۴ کال لپاره داســــــلامي نړۍ دفـــــــرهنگی پایتخت په تــــــوگه اعلام شو.

داطلاعاتو او فرهنگ وزارت داعلامیي په خپــرولو سره دغه موضوع یو بریالیتــوب وباله او د ۲۰۲۴ کال لپاره دکابل د چمتو کــولو په مقصد دښار یانــو د همکاری غوښتنه کړي ده .

دوه کاله مخکي دلیبیادطرابلس په ښارکي داسلامي کنفرانس دغړوهیوادونو په پنځم کنفرانس کي دافغانستان دغزني تاریخی ښار ۲۰۱۳ کال لپاره داسلامی نړۍ د فــــر هنگي پایتخت په توگه ټاکل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رویداد های فرهنگی

# دزدان آثار باستانی در هرات، گرفتار شدند

مقبره ء «گوهرشاد بیگم » آثار وابنیهء بسیار ارزشمندی را درخود جای داده است که ازشاهکار های هنر معماری وکاشی کاری قرن نهم هجری به شمار می رود.

افزایش دزدی اثار باستانی، فرهنگیان وفرهنگ دوستان ولایت هرات را به شدت نگران ساخته است.

مقامات پولیس هرات مي گويند: شب گذشته ، چهار تن ازدزدان آثار باستانی، به صورت ماهرانه اي به محوطهء گنبد گــــوهرشاد بیگم هجوم آورده و قصد دوزدی چهار تخته سنگ مقبره این محل تاریخي هرات را داشتند.

سمنوال « نورخان نیک زاده »سخنگوی قـــوماندانی امنیهء هرات گفت : پس ازاین که پولیس درجریان این دوزدی قـــرار گرفت گروهی را به منطقه فرستاد که درنتیجه سارقین در خارج ساختن سنگ های متذکره ناکام ماندند.

اقای نیک زاد افزود : پس از بررسی هایی که از سوی پولیس انجام شد، دو تن به اتهام دوزدی آثار تاریخی بازداشت شدند و تحقیقات از آنها اغاز گردید، اما دوتن دیگر ازاین دزدان موفق به فرار شدند.

مسؤولین ریاست اطلاعات و فـــرهنگ ولایت هـــرات میگویند : سنگهایي که دزدان قصد دوزدی آنها را داشتند مربوط به دوره تیموریها میباشد که قدمت تاریخی انها به بیش از ٥ صد سال می رسد.

« نعمت الله سروری »رئیس اطلاعات و فرهنگ ولایت هـــــرات از این اقدام پولیس قدردانی نمود و از آنان خواست تا سایر همدستان افراد بازداشت شده را شناسایی و به پنجهء قانون بسپارند.

سرقت میراث فرهنگی در ولایت هرات تازگی ندارد. چندی پیش ۲۲ قلم آثار تاریخی گرانبها از موزیم دولتي هرات و چندین قلم آثار تاریخی دیگر از موزیم غیر دولتی سلطانی در این ولایت سرقت شد که تا اکنون از سرنوشت آثار دوزدی شده معلوماتی در دست نیست.

با اینکه نیـــروهای امنیتی درهرات به ارتباط سرقت آثار تاریخی موزیم ارگ یکتن را بازداشت کرده بودند، اما مرگ غیر طبیعی فرد گرفتار شده همچنان این موضوع را در هاله ای از ابهام قرار داده است.

کارشناسان فرهنگی در هـــرات براین باوراند که دزدی آثار تاریخی در ولایت هـــرات به یکی از عمـــده ترین نگرانی ها در این ولایت مبدل شده است.

# سیما ترانه ازدواج نمود



« سیما ترانه » در میان هنـــرمندان موفق و خـــوش آواز کشور به زود ترین فـــرصت به جایگاه هنری راه یافت و باآواز دلنشین و تـــــرانه های زیبایش قلب همـــه گان را تسخیر کرد.

سیما تـــرانه از هنرمندانیست که به تازه گی ازدواج کرده است گفته می شـــود نام همسر سیما ترانه محمد عمر رفایی است از سرزمین مصر می باشد و تحصیلات خـــودرا در رشتهء انجینیری تکمیل نموده است .

در جواب ســـوالی که آیا همسر تان هنـــر دوست است می گوید:

اگر موضوع هنـــرم مطـــــرح نمی بود، چندین سال از ازدواجم می گذشت. همسرم با این امر موافق است . محفل عروسی را خیلی ساده و بدون تجمل در نظر داشتیم ؛ اما زمانیکه هنرمندان گـــرامی اگاهی حاصل کـــردند ، بنده را زیاد قدر نمودند و هر کدام به نوبهء خـــویش سهم هنری و خـــوشی شان را اداکردند که از صمیم قلب از ایشـــــان ممنون و سپاسگزارم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخی راهی شاعر و تنصیف ساز بی بدیل کشور داعی اجل را لبیک گفت.

اناالله انا الیه راجعون

سخی راهی در سال ۱۳۳۳ در شهر کابل چشم به جهان گشود و در سال ١٣٦٤ به حیث کارمند رسمی در رادیو تلویزیون ملی مقرر شد مرحوم راهی در شعبات مختلف رادیو تلویزیون ملی ایفای وظیفه نموده است و نه تنها یک شاعر و نویسنده موفق بود بلکه تنصیف بسیاری ازآهنگ های هنرمندان نامور کشور را آماده و یاری نموده است و هم چنان یکی از همکاران مستعد قلمی مجله اواز هم بود.

نا م و ترانه های درخشان راهی همیشه رفیق دلهای درد آشنای ما و نسل های بعدی خواهد بود.

مرحوم غلام سخی راهی به تاریخ ۲۰ دلو سال روان از اثر سکته قلبی به وفات نمـــود . هیت رهبری و کارمندان ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی و ادارهء مجله آواز و فات این فرزند فـــــرهنگی کشور را یک ضایعه بزرگ خوانده وبرای دوستان مرحومی صبر جمیل و به متوفی جنت فردوس را از خداوند منان استدعا دارد

روحش شاد باد.



محمد اجمل ختک سیاستمدار و شاعـــر مشهور زبان پشتو در اثر مریضی ایکه عاید حالش شده بودروز دوشنبه ۱۹ دلو به عمر ۸۵ سالگی جهان فانی را وداع گفت.

وی به حیث سناتور و عضو حزب عوامی ملی اجـــرای وظیفه نموده و چندین کتاب شعر و نثر به زبان پشتو و اردو تالیف نموده است.

اجمل ختک در ۱۵ سپتامبر سال ۱۹۲٦ در قریه «اکوره ختک » تولد شده بود . وی دو مرتبه به حیث رئیس حزب عوامی نشنل اجرای وظیفه نموده و در سال ۱۹۷۳ به حیث سکر تر جنرال حزب اجرای وظیفه نموده بود و درسال ۲۰۰۸ برنده جایزه کمال فن نیز شده .

ختک ســـــالهای زیادی در افغانستان تبعید شد و به حیث مهمان دولتی دیده می شد. اولین شعر وی در سال ١٩٤٤ در مجله پشتون و اولین مجموعه شعری و ی به نام « دغیرت چیغه» در سال ۱۹۵۸ اقبال چاپ یافت که بعدا" این اثر در افغانستان و پاکستان ممنوع اعلام شد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حرفهء خبرنگاری



### خبرنگار کیست ؟

خبرنگار کیست ؟ آیاهرکسی میتواند خودش راخبرنگار بنامد وهرچه میخواهدبنویسدیا پخش کند؟ اگرپرسش این بود که « آیا هرکسی میتواند خودش را داکتر بنامد؟» پاسخ دادن به آن دشوار نبود : البته که نه ! برای داکتر شدن دانش ، آموزش وتجربه لازم است ، اگرنه بیمار عمر درازی نخواهد داشت. هرحرفهء دیگری هم به دانش ،آموزش وتجربه نیاز دارد. اگر ساختمانی چند طبقه را معماری بی تجربه بنا کند ، ساختمان حتماً دیریا زود فروخواهد ریخت . یك مثال دیگر : آیامیل دارید درهواپیمایی سوارشوید که پیلوت آن هرگز آموزش ندیده باشد؟

خبرنگاری چطور؟ ظاهرأبسیاری فکرمیکنندهرکسی میتواند بدون آموزش یا دانش تخصصی به کارخبرنگاری بپردازد . آیااین فکر درست است ؟ ما خبرنگاران درگیرکاری هستیم که به بلوغ فکری و احساس مسوولیت نیاز دارد . درست مانند داکتر یا پیلوت کار نیازموده ، خبرنگاری هم که هرچه دلش میخواهد بنویسد ، میتواند آسیب بسیار به بار بیآورد . چنین خبرنگاری میتواند حیثیت فرد بیگناهی را به باد بدهد . یا با پخش دروغ یا اطلاعات نادرست خشونت یا آشوب به پاکند، وچه بسا باعث شود که عده ای جانشان را از دست بدهند . خبرنگاران درشکل دادن به افکار عمومی نقش دارند . مردم برای گفته های آنان اهمیت قائلند . در نتیجه خبرنگاران باید با حرفه خود آشنایی داشته باشند تا با رفتار غیرحرفه ای به کسی صدمه نزنند . میشود گفت خبرنگار حرفه ای کسی است که مانند صاحبان حرفه های دیگر (مثلاً پزشکان و مهندسان) ازضوابط حرفه ای پیروی کند .

افراد از راههای مختلفی به حرفهء خبرنگاری وارد میشوند . دربرخی کشورها مقررات خاصی وجود ندارد و دست کم رسماً عنوان ‹خبرنگار› در انحصار کسانی نیست که آموزش یاتجربهء خاصی داشته باشند ؛ اما درعمل مسؤولان رسانه ها به دنبال کسانی هستند که بتوانند بنویسند ، یا درجلومیکروفن ‘یا دوربین ظاهر شوند وازمسایل روز باخبر باشند ؛ حتی چنین افرادی هم معمولاً از کارآموزی ، بادرآمد پایین ، آغاز میکنند وغالباً تا دوسال دراین مرحله میمانند . کسانی که میخواهند به حرفهء خبرنگاری وارد شوند ، چه بسا پس از پایان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحصیل دانشگاهی دریك رشتهء دیگر ، برای آموزش تخصص خبرنگاری دوباره به دانشگاه بروند . دربرخی کشـــور ها برای ورود به حـــرفهء خبـــرنگاری محدودیت هایی ماننـــد گزینش و گذراندن دوره های آموزشی خاص وجـــود دارد که عالباً تـــوسط دولت ایجاد شـده اند. حتی پس از طی این مـــراحل هم ممکن است لازم باشد فـــرد مجوزی دریافت کند تا بتواند به کار خبرنگاری بپردازد. این مجوز را ممکن است اتحادیه خبرنگاران ، یا یك نهاد دولتی صـــادر کند، و ممکن است لازم باشد که اعتبار آن به طـور منظم تمدید شود.

**کار خبر نگار چیست؟**

به عقیدهء بنیانگذار بی بی سی ، جان ریث، وظایف اصـــلی این ســـازمان عبـــارت بـود از: آگاهی، آموزشی ،و سرگـــــرمی. امـروزهم کار بیشتر خبـــرنگاران همین است ، چـــه در روزنامه ، چه در رادیو یا تلویزیون و چه در اینترنت. اطـــلاعات دقیق به مردم کمك میکند تا در مورد آنچه که در کشـــور شان و در جهان میگذرد تصمیم بگیرند. مردم میتوانند با استفاده از رسانه ها ، مهارت ها و دانش خود را افزایش بدهند.سرگرمی هم، به ویژه در اروپا و امـــریکا ، بخش بزرگی از فعالیت رســـانه هاست. البته ، مطلب یا برنامهء سرگرم کننده ای که با دقت تهیه شده باشد، میتواند اطـلاع رسان و آموزنده هم باشد.

خبـــرنگار ممـــکن است در یك روز معمولی کار خـود در یك ، چنـــد، یا تمام فعالیت های زیر اشتراک کند:

* حضـــور در صحنهء وقـوع خبریا برنامهء از پیش تعیین شده.
* گـــــردآوری وپـــژوهش در بارهء اطـــلاعات و نظـــرات تحـقیـــق در بارهء اخبــــــار.
* انتخاب مهم ترین و دقیـــق تـــرین اطلاعات.
* تهیه و عرضـــهء مطلب گرد آوری شده به اشکال مختلف ، مانند گزارش، مصاحبه ، مقاله، یا تفسیر.
* اظهار نظر در بارهء رویدادها.
* درخـــواست مطلب از خبـــــر نگاران دیگر.
* بـــــرررسی و ویـــراستاری مطالب دیگران.

اطـــلاعات دقیق به مردم کمك میکند تا در مورد آنچه در کشـــورشان و در جهان میگذرد تصمیم بگیرند :

خبـــرنگاران معمولاً مقـــدار زیادی اطـــلاعات را پـــردازش میکنند و به شکلی درمی آورندکه بـــرای عُـــدهء

بقیه صفحه ۵۰



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سینما د هنر مخینه

داکتر عبدالواحد نظری

دنولسمي پیړۍ په دوهمه څلرمه کي زيات شمير مخترعانو خپل هاند او هڅي دعکاسي هنر کشف ته وقف کړي اوله همدغه لاري يې دسینما تاريخ د زيږندي څخه مخکي دوره کي، دثبت دتخنيک اود خوځنده تصويرونو دوړاندي کولو په برخه کي زيات شمير لاسته راوړني دځيرونکو او مينه والو په واک کي ورکړي. په لومړيو پړاوونوکي ددي موضوع څخه دعکاسي لپاره دزمان له مخي ډير اوږد وخت په کار و. دعکاسي حساسو موادو پرمختګ او دکامري دلنزونو کارونه، دنور ورکولو دمودی واټن په ورو ورو راکم کړ، ترهغه خايه چي په ۱۸۷۰م لسيزه کي بشر بريالي شو تر څوديوعکس اخستل ديوي ثانيي څخه په نسبتاً لږ وخت کي چمتوکړي. اوس ديوي خوځندی موضوع څخه دتصوير اخستني شونتيا لپاره دسينما ننداري ته

وړاندي کيږي او په ننداره کي يې په پوره توګه تر لاسه سوي وه.

په پيل کي هنر وايم که صنعت يوازي په دي خا طرمنځته را نغي چي دبشر هيله وه په دا سي حال کي لکه مخکي چي موويل عکاسئ منځته راغلي وه، نو ددي فن پوهانو کو شش کاوه چي داعکسونه خوځنده کړي اود انسان دسترګو دهغه خاصيت څخه په ګټه چي تر يوه وخته تصوير ساتئ لپاره يي ر از راز تجربي تر سره کولي يا دحرکت مختلف انځورونه به يي په لاس رسمول او يا دا سي وسايل جوړ کړل چي تر يوه حده دا احساس وليدونکي ته پيدا کاوه

چي يو څه په حرکت کي ووينې...نومونږو انځورونو په چټکي سره يو په بل پسي دځو وړو پنجرو او يا يو شمير هندارو په مرسته دحرکت بني ښودلي، خيني وختونه به دغه



انځورونه ديوي دايري په بڼه د صفحي په مخ په ترتيب راتلل او يا به د منظم پټې په څير په پرله پسي توګه ديوي استوانه ای سطحي په خوا او شا څرخيده. څرنګه چي په دغه سيستم که يوازي له کم شمير انځورونو څخه ګټه اخستل کيده، نو څکه ننداري ته وړاندي شوي حرکتونه په طبيعي توګه ډير ساده او تکراري وه. دهغه ابزارو او سامان آلاتو لپاره چي دنومونږي طريقي په مرسته يي دحرکت شونتيا رامنځ ته کړه ډول ډول او پيچلي وسيلي لکه (زويتروپ) **(Zoetrope)** (پراکسينوسکوپ) **(Praxinoscope)** او (استرو بو سکوپ) ( **Stroboscope** ) او نور د جادويي فانوس سره چي يوازي يو انځور به يي دپردي پر مخه په تياره کوټه کي ښکاره کاوه يو ځاي سول او دخوځنده تصويرونو ابتدايي شکل يي جوړ کړ.

ددي تولوسره ډير دا سي مخترعين بي له دي چي و خوځنده تصويرونو ته لاره پيدا کړي دسينما په منځته راتلوکي ډيره مهمه ونډه لوبولي ده.

په ۱۸۷۸م کال کي ادوارد مايبريج **(EdwardMuybridge)** دځلورويشتو کا مرو يو تر بل تر څنګ د ايښودلو په نتيجه کي چي ديوه څغلنده آس تصويرونه واخستل. په ۱۸۸۲ کال کي يو ځناور پيژندونکي فرانسوي ژول مار تين دمايبريج څخه په الهام اخستلو دا سي يوه وسيله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعکاسي دتوپك په نامه يادېده د حيواناتو د حرکت دمطالعي په خا طر جوړه کړه، دا وسيله چي تو پك ته ورته وه، په يوه ثانيه کي دوولس عکسونه ديوي ښيښه يي ګردي ورقي پر مخ چي په تو پك کي تاوېدل ا خستل. همدا راز ايتين ماري(Etienne Marey) لومړي سړي وو چي دحرکت دا خستلو په خا طر ددا سي موادو څخه ګټه وا خستل چي دکتووړ وه. که څه هم دده مقصد دا نه ؤ چي هغه پر پرده ښکاره کړي بلکه دحرکت مطالعه وه، خو دده دا کار دنورو مخترعا نو دالهام سبب سو.

بلا خره دنولسمي پيړی په ورستيو کلنو کي په مختلفوصنعتي هيوادوکي دپخوا نيو تجربو پر بنياد يو په بل پسي خپلي کامري او پرو جکتورونه چي خوځنده تصويرونه يي ښکاره کول ،ثبت او ننداړيته وړاندي کول. ددي کار عمده ونډه اديسون او ديکسون (Adeison and Dickson ) په متحده ايالاتو او دلو مير وړونو ته په فرا نسه کي ور په برخه سو. خکه په امريکا کي اديسون خپل فونو ګراف (Fonograph)کي د ږغ ثبتول تر سره کړی وو او غوښتل يي چي تصويرهم ور سره يو ځاي کړي. ده د تصويرد ښودلو په خاطرد يوه مار پيچه استواني با ندي تجربه کول چي وروسته د جورج ايستمن (Eastman) چي خپل سلو لو ييدي پټی يي بازارته عرضه کړي وه، په استفادی سره خپله کامره دکينتوسکوپ په نامه جوړه کړه،چي ترشپږو سوو تصويرونو پوري يي ثبتول، ولي دده کينتوسکوپ (Kinetoscope)يوازي يو کس په يوه وخت کي ليدلاي سواي. چي ديوه سوري څخه به ليدل کيدي.

ددغو سيستمو څخه يو هم دماکس او اميل سکلا دا نوو سکي ( Max and Emile skladanowsk) و، چي په هغه کي ددوو پټيو څخه استفاده کيده چي يو ځاي به يي حرکت کاوه.

دسينما او فلم ننداره په ننی ډول د اديسون (Tomas Adeison) دنظرياتو او لو مير د وړونو چي د اخستل سويو تصويرونو پټی يي دجادويي فانوس په ذريعه پر پرده ښکاره کيده په



پايله کي وزيږ يدی.

اګوست او لويي لومير (Lumiere Brothers) چي خپله د عکاسي ديوي فابريکي خاوندان وه او د پلاره ورته پاته وه دخپلي لومړنی دستګاه د سينما تو ګراف (Cinematographe)په نوم ونومول هغه نوم چي تر اوسه دخوځنده تصويرونو دننداري په نامه مشهورده. لومړنی ننداره د دلومير د وړونو دفلمونو په ۱۸۹۵م کال ددسمبر په ۲۸ مه په پاريس کي پيل سوه. دالو مړني فلمونه لنډ مستند فلمونه وه.

د شلمی پيړی په لومړی لسيزه کي موږ ددي شاهدان و چي سينما ديوه صنعت په توګه د نړيوال فني اصولو پر بنياد دنړي دتفريح په يوه وسيلي تبديل کيږي. د لومړنيو خوځنده تصويرونو په اخستو کي،کا مري يو ثابت موقعيت او يو اجمالي ليد وصحني ته ورته وال درلود ولي په تدريج سره د صحني دمختلفو زاويو څخه فلم واخستل شو، شاټونه اوږده سول. دي تکنيك د دراما تيك بيان لپاره دلوبغاړيو په وسيله لاره هواره کړل سوه.

داديسون او لو مير د وړونو فلمونه ډير ساده وه او تر يوي دقيقي پوري به يي وخت نيوي، خو کرار کرار دا سي فلمونه جوړ سول چي تر دريو دقيقو پوري رسيدل تر څو چي په ۱۹۰۳هـ ل کال کي د ريل غټه غلا ( The Great Train Robber) په نامه فلم چي ۱۳ دقيقي وو په جوړيدو سره دسينما تاريخ ديوه نوي پړاو پرانيست څکه چي دسينمايي بيان خيني مهمي بيلګي لکه موازي مونتاژ، کلوز اپ ( Close up ) او خاص ډرا ما تيك

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیان در لود..

تیروخت ته په کتوسره، د سینما توګرافي یاتصویر دثبت وسیلي اصولي او علمي تعریف اودهغي خانګړتیاوي په ساده اولنډه توګه په دي ډول بیانیږي.

چي یوه کامره، په صحنه کي دموضوع له حرکت څخه، دثابتو عکسونو مجموعه دعکاسي حساس فلم، دیوي رڼي (شفاف) پټی پر مخ ثبتوي اودیوه پروجکتور(ننداریزي دستګاه )په واسطه دعکسونو دهمدغي مجموعي غبتي شوي تصویر، په تیاره سالون کي دپردي مخته لیږدوي. خو دکامري په دننه کي دراخرګند شوي فلم، حساسیت او سرعت لا یوه ستونزه وه. اوپه همدغه اساس وو چي په ثانیه کي د ۱۶ تصویرونو معادل سرعت د اډیسون اونورو په واسطه داستفادي وړ وګرځیده. دنوموړو تصویرونو دثبت او وړاندي کولو لپاره یوډول دنور په وړاندي حساس فلم د ایستمن له خوا د اډیسون په واک کي ورکړ شو. نوموړي فلم د۳۵ ملي مترو په شاو خوا کي پلن وو.

دا رازفلم د سینما له دراماتیکوامکاناتو نه په ګټه داشوننتیا ترلاسه کړه چي لوړ داستانونه او دهغو د عاطفي اغیزو سره یوځای دپردي پرمخ ننداري ته دوړاندي کیدو جوګه شو. د اوږدو فلمونو تولید دعامه ننداري دسترو سالونونو دجوړیدو عامل وګرځید. او دکانسرتونو اوتیاترونو پخواني سالونونو دفلم ښودلو لپاره اماده سول. ..

سینما دشلمي پیړي هغه زیږنده وه چي ډیر ژر یي د او و م هنرنوم وګاټه نه یوازي چي نوم یي ترلاسه کړ تولو نور هنرونه لکه ادبیات، مجسمه جوړول، تیاتر، موزیك، رسامي، مهندسي او رقص یي په خپل خدمت کي وګمارل اودعصري تخنیك دانکشافاتو څخه په ګټه اخستو یي په ډیر لږ وخت کي دپرګنو په زړونو کي خانته ځای پیدا کړ او دنوي عصر په لوړ، په زړه پوري، اغیز من هنر او فن بدل سو. د دنیا په ګوټ ګوټ کي، سینما ګاني جوړي سوي، دفلم جوړولوستیدیوګاني، اودزده کړي او ترینګ مرکزونه جوړ سول، ډیرو مینه والو دخپل بخت ازما یلو په خاطر دي نوي هنر ته مخه وکړه او په ډیر لږ وخت کي یي خپله خانګړي ژبه پیدا کړه، سینمایي وسایلو وده وکړه .ددي هنردلا تنوع په خاطرنوي ابعاد اوپردي پیدا کړي.(۱)



.او په افغانستان کي د سینما تاریخ د امیرامان الله خان دواکمني د ۱۹۲۲، ۱۹۲۵ میلادي کلونو یاني له اروپا څخه هیواد ته د دوی د سفرد را وروسته وخت سره تړاو لري. په همدغو کلونوکي لومړی ببي غږه فلم دپغمان په سلطنتي باغ او دکابل دعسکري کلوپ کي د درباریانو او یوځي افسرا خپله شاه امان الله خان او علامه محمود طرزي د افغانستان د ژورنالیزم پلارهم ګډون کوي .

د ‹ عشق او دوستي › فلم د رشید لطیفي چي هغه وخت دپو هني نندار ي مسوول و. د نشاط ملک خیل اونورو دتیاتر دلوبغاړو په مرسته لکه عبدالرحمن بینا، احمدضیاراتب زاد، نورمحمد افغان په ۱۳۲۵ هـ.ل کال کي دلاهور ښار دفلم جوړوني دیوي کمپني په مرسته (هما فلم ) کي پاي ته ورسوه. دافلم ددي په خاطر لاهور ته یووړل شو چي دیوي خوا دفلم جوړولو تخنیکي وسایل او مسلکي پرسونل دلته نه وو او بل هلته ښځینه لوبغاړي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساني موندل کيدي او په کابل کې داکار گران اونامکن و. په نوموړي فلم کې نشاط ملک خيل دشاعر په رول کې عبدالرحمن بينا ديوه نظامي کپتان او يوپيښورى نجلي ( زيب قريشي ) دمريم په رول کې راڅرگنديدل. او دډايرکټ چاري يې د(هرالد لونيس ) په غاړه وي. دغه فلم د سينما په تاريخ کې په افغانستان کي لومړني فلم وو، چې دري څلويښت دقيقي وخت يې ډيردي پر مخ نيوى او دهغه وخت سينما کابل او دولايتونو په نورو سينما گانوکي ننداري ته وړاندي شو. کولاي شو چې دغه فلم دفلم جوړوني لومړني هسته او دراتلونکو ځوانو او استعداد لرونکو فلم جوړونکو دلاري څراغ وگڼو. او هم دمرحوم لطيفي او بيا په ځانگړي توگه دنشاط ملک خيل زحمتونه چې نوموړي فلم يې په خپله شخصي سرمايه او څه ناڅه دنورو په مرسته جوړکړ په قدر سره وستايو .(دا فلم کله چې زه دافغان فلم دريا ست چاري را تر غاړي وي ديو ه چا څخه، چې ډېر پيسو ته اړ وو او د نشاط ملک خيل دکورني څخه و، دپيسو مقابل کي تر لا سه).

دا لومړني افغاني فلم تر ډيره تياتري جوړښت لري او لکه څنگه چې دنامه څخه يې پيدا ده دعشق او دو ستي پر بنياد جوړ شويدى، خو دجوړښت له خوا ډير ساده او کليشه يي دى، دوه دو ستا ن چې يو يي شا عر او بل يي کپتان دى او دواړه ديوي انجلى سره مينه لري، خو انجلى خپله بيا دشا عر سره مينه لري، شا عر کله چې دخپل ملگري له خوا مجبوريږي چې دهمدي انجلۍ لپاره مرکه وکړي دخپل ملگرتوب په پاس غواړي چې د نجلى تو جه دخپل ملگري وخوا ته واړوي ....

فلم لکه دا کثرو هندي فلمونو په شان ميلو دراماتيک جوړښت لري او په ساز او آواز پيل کيږي او دفلم په اوږدو کې هم دا ساز او آواز ځاى کړى شوى دى. خو دخو شحا لي ځاى دلته دى چې د لومړنى افغاني فلم لپاره افغاني سندري چې د( استاد بريښنا) له خوا کمپوز سوي دي، چې دفلم د ښکلا نقطي

(۱ تاريخ سينما مولف ديويد يوردول اوکرستين تامسون)

هم همدا سندري دي. دشاتو نوکمپوزيشن په ښه وجه ترسره سوي دي او ځينې شاتونه پر سپکتيو او عمق هم لري.

فلم ديوه لومړني فلم په صفت تر ډيره حده دمنظمو او حساب شوو شاتونو در لوڈو نکي دي. چې دا کار تر ډيره حده دگمنامه ډا يرکټر هرالد لو نيس دکار ښه بيلگه ده.

داچې دغه فلم زړونو ته لاره وموندله، که نه؟ دفلم پرجوړښت او نيمگړتياوو څه ليکل، چې له نن څخه۶۳ کاله مخکي دهيواد اوضاع اوحالت او دوخت دلازمو فني او تخنيکي شوونتياوو او ذهني، فرهنگي شرايطو په نظرکي نيولو سره بايد هغه له پامه ونه باسو. فلم بايد يادو شوو شرايطو ته په پام سره وڅيړو. په هرصورت دغه نوي بنسټ لکه څرنگه چې هيله وه او غوښتنه تري کيده، په خواشيني سره پراختيا ونه موندل، اوبل څوک هم دفلم دتوليد په برخه کي لاس په کار نشو.

دولت هم ( دفلم جوړوني ) دغه دلگښت نه ډک هنر سره هومره مينه او علاقه ونه ښودل، له همدي امله خلکو د ايراني، هندي او امريکايي فلمونو ته



مخه کړه. نوموړي فلمونه دليدونکو له خوا لومړى د ښار په يواځني سينما يا نې دکابل سينما کې کتل کيده، بيا وروسته د بهزاد سينما چې په باغ نواب کې يې موقعيت درلود او د پامير سينماته دفلم دننداري لپاره تلل.

دغه فلمونه د اطلاعاتو او کلتور وزارت دپوهني ننداري رياست دفلم دتوريد دعمومي مديريت لخوا له بهر څخه دکرايي په بڼه هيواد ته وارديدل، ترڅوچي دوخت په تيريدو سره د (فيض محمد خيرزاده ) په نوم يو روڼ آندي او منور شخص چې لوړي زده کړي يې په امريکا کې پاي ته رسولي وي، دښکلو هنرونو په نامه ديوي موسسي بنياد کښيښود او دنورو هنري اوتعليمي پروگرامونو تر څنگ د (مانند عقاب) ۱۳۴۳ هـ.ل په نوم فلم دجوړيدو په فکرکي شو. ده د فلم سناريو وليکله اود ډايرکټ او پر وديوس دنده هم دده په غاړه وه. دفلم اخستو چاري يې(محمداسحق ستارزاده ) ترسره کړي. په نوموړي فلم کې د ظاهر هويدا نه پرته، چې دفلم په يوه صحنه را څرگنديږي، يوه کوچنى نجلى دناجيه په نامه په مرکزي رو ل کې برخه اخستي ده .

پاتې ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اهمیت طراحی و دیزاین

عزیزه احمد زی



نقش صحنه آرایی و دکور دربرجسته گی ، جلوه و جلایش استیژ در دیدهء بیننده مهم وتأثیر انگیزاست . به هم آمیختن رنگ ها تو سط طراح ، تنظیم و جابه جا سازی کپشن ها وصحنه آرایی باأذین توسط هنر گرافیک نقش بساعمده در نمایشات تیاتر، نشرات تلویزیون وسینما می داشته باشد.

دراین صفحهء مجلهء آوازصحبتی با آقای شیرمحمد ترابی مدیر عمومی ادارهء آرت وگرافیک تلویزیون ملی داریم و در مورد دکوریشن برنامه ها که امید مورد علاقه قرارگیرد:

آقای ترابی یکی از اولین فارغان پوهنحئی هنرهای پوهنتون کابل است وی درسال ۱۳۵۸ شامل کار در ادارهء آرت وگرافیک شد و ازهمان آوان تا امروز به صدها اثردکوری درآرشیف تلویزیون دارد .

آقای ترابی در مورد ادارهء آرت وگرافیک چنین معلومات ارایه نمود.

ادارهء آرت وگرافیک از ابتدای نشرات تلویزیون ایجاد شده و بنیان گذار آن آقای « نبی اله هنرمل » می باشد.شعبات گرافیک ، دیزاین ، مکیاژ و نجار خانه در هماهنگی با نشرات برنامه های تلویزیونی اجرای و ظایف می نمایند.

پرسش - لطف نموده در مورد ارزشمندی دکور در برنامه های تلویزیون نظرتان را بگویید؟

پاسخ - دکورباصحنه آرایی در تلویزیون ، یکی از وجوه بصری مهم و اثر گذار دربیان هنر های دیداری محسوب می شود . که نمی توان به ساده گی از آن گذشت در طراحی و دکور تحلیل همه جانبه و تفاهم با کار گردان برنامه ها و هویت فرهنگی کشور باید در نظر گرفت هرگاه نمایش



بدون دکور و طراحی ثبت شود تاثیر کمتر خواهد داشت برای بینند زمانی که اتاق بدون دکور و چهاردیواریاشد طبعا" خوش آیند نیست . پس درهر برنامه و نمایش دیزاین جزمهم و اساسي را تشکیل مي دهد .

پرسش - فن آوری جدید چقدر درکارهای تان سهولت به بار آورده؟

پاسخ - صحنه آرایی اکنون آنقدرپیشرفت کرده که عمل دراماتیک و تمثیل را قوی تر و بهترجلوه می دهد . به کمک اختراعات جدید و صحنه آرایی جدید توسط کمپیوتر و سیستم جدید دیجیتال ، صحنه را به طور دقیق تر برجسته و تصاویر گوناگون عقب صحنه را روشنتر نشان می دهد . وبا کار برد برق و نورافگن ها برای تغییر صحنه ها نیز کمک موثر در استیژدارد که بیننده را مشغول و محو تماشا و نمایش می نماید.

پرسش - تاکنون در صحنه آرایی ودیزاین فلم های سینمایی سهم گرفته اید؟

پاسخ - بلی دردوفلم سینمایی به

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفت دکوریشن و ارت دایرکتر سهم داشته ام؛ یکی فلم فرانسوی به نام « صلح را دوست دارم » و دوم فلم جاپانی « ستاره سرباز » و حال مصروف تهیه دکوربعضی صحنه های فلم افغانی « مولانا» که دربرگیرنده زنده گی نامه مولاناجلال الدین محمد بلخی است می باشم .

پرسش - درمورد صحنه ارایی بزرگداشت از مناسبت های مختلف برنامه های عیدی نوروزی ارزش دکور و **طراحی چقدر مهم** است؟



پاسخ - در قسمت دیکور و طراحی برنامه های فوق العاده تلویزیونی کار هایی را به شکل ظریفانه با هم بافت میدهیم چه از نگاه مخلوط رنگها و طراحی ان وچه از نگاه نجاری،حکاکی و استفاده ازتکه های کاج وکاغذ های زر ورق دار که نور های رنگا رنگ را جذب و انعکاس زیبا وجلوه گر می داشته باشد تهیه می نمایم تا برنامه جذابیت خاصی را ازخود نشان دهد.

پرسش - پیشنهاد تان به خاطر بهبود ورونق وجذابیت دیکور درتلویزیون چیست؟

پاسخ - پیشنهاد من در قسمت نو آوری دکور های جدید این است که فن آوری معاصر با توجه به خواستهای زمان و بادرنظر گرفتن فرهنگ مردم باید تا دکورهای خود را با زمان تطابق دهیم واین خیلی موثر خواهد بود . امیدارم تا درآینده‌ء نزدیک به همچو دکورها دسترسی پیداکنیم .

یکی ازمهم ترین عوامل ساختاری که تاثیر بیشتر حضور شخصیت ها می شود دکور و لباس است در مورد ، آقای رفیق ایاز کارمند مجرب و فعال اداره‌ء ارت و گرافیک میگوید:

لباس یکی از عوامل موفقیت و پر بیننده شدن ، تیاتر ، فلم و نمایش محسوب می شود .

بیننده به هرنوع پوشش به ویژه در فلم های تاریخي ، اهمیت زیادی میّ دهد . نمایش تیاتر «میرویس خان نیکه » به اساس نوشته استاد مستعد مرحوم «عبدالغفور برشنا» دایرکت گردید.

از همان آغاز تحقیقات و سیعی را در باره‌ء آثار تاریخی آغاز کردم مخصوصا" ازآثار و نقاشی استادمرحوم برشنا دیدن کردم . با کمی تفاوت نمونه لباس را آماده و به دسترس هنرمندان تیاتر میرویس نیکه گذاشتم.

وی درمورد دکور گفت که براساس اندازه و محاسبه تهیه و ترتیب می گردد . زمانی که دکور نصب شد سپس دیزاین به اشکال گوناگون صورت می گیرد.

پرسش - لطف نموده در مورد کار برد رنگها، نور و اهمیت آن در دکور و دیزاین روشنی اندازید؟

پاسخ - در نمایش ها کار برد رنگ مر بوط به خواست کارگردان است اگر نمایش های وهنرمندان برجسته تر و روشنتر نمایان



گردد، در دیزاین از رنگ های سفید کریمی ، آبی روشن کار گرفته می شود و رنگ های تاریک اکثرا" در نمایش های تاریخی به کار گرفته می شود به همین ترتیب استفاده از نور با لایت های رنگا رنگ هم نقش عمده یی را دارند.

اصلا" دکور ودیزاین به روحیه برنامه تهیه می گردد، کارگردان موضوع برنامه را با ما در میان می گذارد وسپس اداره‌ء ما دکور را تهیه می نمایند.

پرسش - آیا آرشیفی برای نگهداری لباس و دیزاین دارید؟

پاسخ - باتأسف که آرشیفی وجود ندارد.

لباس هایی که برای تیاتر میرویس نیکه ، مولانا و به ده ها قسم لباس و دیزاین آماده گردیده در تحویل خانه یی که امکان سالم ماندن آنها کمتر است ، نگهداری می شود.

پرسش - برای بهتر شدن کیفیت کار چه نظر دارید؟

پاسخ - اشخاص مجرب و دانسته را به کارگماریدن واز فکر و اندیشه ظریفانه‌ء آنها استفاده کردن ضروری است. تشکر و جهان سپاس از شما.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلټنې برخه



# کتاب او فرهنګ

انور وفا «سمندر»

## خیال:

«هرڅوک هومره حقیقت ترلاسه کوي، او مومي، چې د لاسته راوړلو له پاره یې ځان چمتو کړی وي. د فرد له ظرفیت څخه زیات څــه د هغه د ذهن له کنډولي ځاځي او وینځل کیــــــږي» هارولد کلمپ

خیال د انسان د پوهې د الوت بې پولو قلمرو دی. خیال د هستۍ له پولو اوړي، نیستۍ تجربه کوي، او انسان د زمان او مکان له منګولو ازادوي. خیال د فردي ازادۍ اصلي ډګر دی. په خیال کې نه لیدلې ایتوپیا تجربه کولای شو. د واقعیت ټول فصل له خیال څخه راوتي. فرد پرته له خیال هیڅ نه لري. په خیال کې د شعور او پوهې ټولې پولې، دیوالونه، د اور سیندونه، او لوړې ژورې شکل او خاصیت له لاسه ورکوي. په خیال کې موږ هیڅ پوله نشي تم کولای. زه یم خو خیال مې له ماشومتوبه ویده کــړی. ما به چې خوبونه موندل مور به ویالې ته لیږلم. او ویالې به یوازې شوږسسس...کاوه. له هغې وروسته بې ښوونځي ته ولیږلم، مکتبي شوم! او کتاب مې مسلک شو. کتابونه مې ولوستل او ولیکل خو ځان مې پوره ونه لیده. څپل کتابتون مې په کتابونو ډک دی. رسنۍ هره ورځ نوي او نوي کتابونه معرفي کوي. کتابونه او دا فرهنګ چې څومره غواړې شته او لا ډیر دی! خو زه یې لیک. څه شی لیکم چې له لیک او تورو بهر پاتې کیږي. ښایي دا کومه بې شکله هندسه وي، ښایي زه د کوم بې شکله کلام په راژباړلو اخته وم! ښایي خواب په څپل خیال کې ومومم. دا هغه یوازینۍ شیبه ده چې خیال پیلولای شم.

نن موږ له دې ننګونې سره مخ یو چې څرنګه څپله کمي پرمختیا په کیفي څوا ک واړو.

موږ په څپل کمي ظرفیت(اجازه راکړئ چې، ذهني حسي، عاطفي...په کمي ظرفیت یادې کړم)کیفي ظرفیت ته څه ډول لاره ورکـــــــړو، ښایي خیـــــال!

«په نـــــړۍ کې یوازې یو شی شته، خیال! حقیقت په تینګه توګه په شعور پورې تړلی دی، نه په بهرنیو پیښو پورې.

بشر په هغه څه اوړي چې تصور کولای یې شي!

په واقعیت کې د ځمکې ستوری د یوه ژوندي موجود په څیر خوري، څښي او ساه را کاږي.

موږ په یوه داسې نړۍ کې ژوند کو چې تر ټولو لویه برخه یې حتا موږ ته د تصور وړ نه ده!

موږ یوازې په سلو کې یوه برخه وینو. د خیال ډیوه به ولګو، ځکه چې په سلو کې ۹۹ تیاره هستۍ کې ژوند کوو!»

موږ ادبي تاریخ لرو، موږ عرفان او معنویت لرو، شمس او رحمان بابا لرو. او هغوی ژوندي وینا لا اوس هم موږ ته د خیال کوڅې روښانوي.

«وینا له ځان سره کولای شم، یا هغه چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـــــــره چې ځان په کې ووينم، وينا کوم»شمس

تمدنونه راټوکيږي، ځوانيږي، زړيږي، مري او انسان لا ځان ليکي.

نو د ا د کتابونو فصل دې مبارک وي ځو لا مو–هسې چې اړتيا ورته لرو–د خيال فانوس نه دی رڼا کړی!

انسان فــرهنګي موجود دی. انسان ژبور دی. انسان تمدن پنځوي. انسان ځمکه، ژوي، سيندونه، سمندرونه، ستوري، سپوږمۍ، ايل کوي. انسان پر هرڅه د خپلې فتحې بيرغ ودروي. انسان تمدني فاتح دی، خو زموږ برې، زموږ پرمختګ، زموږ د ستورو او سمندرونو جګړه، زموږ له خوا د فضا کلابندول څومره موږ ته سوله، ډاډ، امن، او فطري لذت را کوي؟

انسان د ځمکې پر لويشت لويشت فصلونو، غرونو، سيندونو، ځنګلونو، او د ځمکې له پاسه يا دننه بالفعله او بالقوه شتمنيو خپل نوم ليکلی. همدا زموږ بشري فرهنګ دی، خو لا په سلو کې ۹۹تياره واقعيت په مخ کې دی. موږ يوازې د نړۍ يوه سلمه ليدلې! په دې ۹۹سلنه تياره کې به زموږ بشري علوم څومره قد باسي؟!

له حواسو د خيال په لور کډه کول:

بيا د يادولو وړ ده چې موږ په يوه داسې نړۍ کې ژوند کو چې تر ټولو لويه برخه يې حتا موږ ته د تصور وړ نه دی.»

بشر خپلې فزيکي وينبې را ايسار کړی. بشر يوازې د سترګو، غوږو، خولې او نورو ښکاره حواسو له لارې پوهه او خبرتيا مني. نننی انسان هغه څه مني چې په سترګو او نورو حواسو کې يې ځايږي. انسان خپل لرغونی خوب ورک کړی. انسان خوب خيال ګڼي، خيال پوچ خرافات او چې ډير يې خوبونه او خيالونه په غير کې کيښکاږي، نو روانشناس ډاکټر ته ورځي او ځان په مخدرو داروګانو د خوبونو او خيالونو له بې‌شکله او بې‌حجمه هندسو راوباسي.

زموږ تمدن يو مادي تمدن دی. فرهنګ مو هم مادي–ذهني دی. او له همدې هندسي چاپيرياله پرته بل رښتيا نه وينو.موږ ځانونه نيم پرانيستلي. موږ خپله نيمه برخه ژوند کو. موږ نيم ژوندي يو. شپه، خيال، خوب د خوبونو تجربې نه منو او ځکه ژوند نيم په نيمه بايلو. بشر يعني هغه ژوندي چې خپل نيم ژوند کوي!

### Anti material ضد ماده يا

موږ د معلوماتي پوهو په ديوالونو کې پټ شوي يو، خو هنداري هره ورځ زموږ څيرې زړې، سپيرې او مرګ ته نيږدې را پيژني. راشئ وګورو ددې مادي–تمدني دبدبې ها خوا څه شته؟

نوی فزيک د مادي په وړاندې د ضد مادي نظريه را پورته کوي. په مادي اتومونو کې هغه الکترون چې ماده يې رامينځ ته کړې او د هستې پرخواوشا را څرخي، منفي بار لري. او د هغه اتوم په هسته کې چې له پروټون او نيوټرون تشکيل شوی، پروټون مثبت بار لري.

خو په ضد ماده کې حالت ددې پر خلاف دی. يعني په ضد ماده کې د الکترون بار مثبت دی چې هغه پوزيترون نوموي. او د پروټون بار بيا د مادي پرخلاف دلته منفي دی.

د فزيک د پوهانو د نظريو له مخې که چيرې د مادي د يوې ذرې له يوې ذرې ضدي مادي سره ټکر پيښ شي، ډيره ستره چاودنه به رامينځ ته شي. چې ټوله هستي به په نيستۍ واړوي.

ځکه نو موږ په ۹۹سلنه تياره کې لاره وهو! د فزيک د علم له مخې د ضد مادې په جهانونو کې قوانين په بشپړه توګه د مادي نړۍ پرخلاف عمل کوي.يعني که هلته يو څه تيل وهې د وړاندې تګ پرځای په شټ را ځي. يا که يو څه غورځوې هغه پورته خيژي.

هماغسې چې يو فرد زوکړه کوي، لويږي، ځوانيږي، زړيږي او مري! تمدنونه، فرهنګونه، څيزونه او ځمکه او نور ستوري هم زوکړه، ځواني، زړښت او رژيدل او ورکيدل لري. موږ په يوه ژوندۍ نړۍ کې اوسو.

**د فرهنګ سرچينه:**

د ځمکې پرمخ ټول بدلـــــــونونه هغه

پاتې ۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاوید فرهاد

# جغرافیای یک غزل

**بازخوانی چند رویکرد در اندیشهء مولانا**



بازخوانی چند رویکرد را در جغرافیای یک غزل "مولانا" با خوانش خود غزل، آغاز میکنیم:

«بی همگان بسر شود، بی تو بسر نمی شود

داغ تو دارد این دلم، جای دگر نمی شود

دیدهء عقل مست تو، چرخهء چرخ پست تو

گوش طرب به دست تو، بی تو بسر نمی شود

جان ز تو جوش می کند، دل ز تو نوش می کند

عقل خروش می کند، بی تو بسر نمی شود

خمر من و خمار من، باغ من و بهار من

خواب من و قرار من، بی تو بسر نمی شود

جاه و جلال من تویی، ملکت و مال من تویی

آب زلال من تویی، بی تو بسر نمی شود

گاه سوی وفا روی، گاه سوی جفا روی

آن منی کجا روی، بی تو بسر نمی شود

دل بنهد بسر کنی، تو به کنند بشکنی

این همه خود تو می کنی، بی تو بسر نمی شود

بی تو اگر بسر شدی، زیر جهان زبر شدی

باغ ارم سقر شدی، بی تو بسر نمی شود

گر تو سری قدم شوم، ور تو کفی علم شوم

ور بروی عدم شوم، بی تو بسر نمی شود

خواب مرا ببسته ای ، نقش مرا بشسته ای

وز همه ام گسسته ای ، بی تو بسر نمی شود

گر تو نباشی یار من، گشت خراب کار من

مونس و غمگسار من، بی تو بسر نمی شود

بی تو نه زنده گی خوشم بی تو نه مرده گی خوشم

سر زغم تو چون کشم، بی تو بسر نمی شود

هر چه بگویم ای سند، نیست جدا ز نیک و بد

هم تو بگو به لطف خود، بی تو بسر نمی شود»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هنجار شکنی در شعر:**

یکی از ویــــژه گی های مهم در شعر مولانا، «هنجار شکنی هنجار مند» از قاعــــده های متعارف و شکستانــــدن مرز های دست و پاگیر است. عامل مهم این هنجار شــــکنی (سنت شکنی در شعر) سیلان اندیشهء مواج و جــوشان در ذهن مولاناست.

مـــــولانا به دلیل داشتن اندیشهء باز وگسترهء فکــــری وسیع، قواعد سنتی قافیه و افاعیل عـــروضی را ، ظرف دارای ظرفیت کاربردی برای ریختن اندیشه نمی داند و به همین منظـــور ، اشارهء ژرفی به این مسأله دارد:

**«رستم ازین بیت و غــــزل، ای شه وسلطان ازل**
**مفتعلن مفتعلن ، مفتعلن کشت مــــرا**
**قافیه و مغلطه را ، گو همه سیلاب ببـر**
**پوست بود، پوست بود، در خــور مغز شعرا»**

و یا:

«قافیه اندیشم و دلدار من
گویدم مندیش جز دیدار من»

با استناد بر همین پنــــداشت است که مـــــولانا، در پاره یی از موارد - با تعمد- میخـــــواهد زولانه های دست و پاگیر قافیه را در یک غــــزل دارای چارچوب هنجارمند بشکند و عنصر موسیقایی را در «ســــرشت کـلام» گسترش بدهد.

ویژه گی دیگـــــر مولانا، تکیه بر ذات مـــوسیقی درونی واژه ها و افادهء بار معنایی آنها دربافت زبان است. مثلاً در بیت دوم غزل بالا ، واژه های « مست و پست و دست» و در بیت ســـوم واژه های «جوش و نوش و خروش» - افزون بر هم جنس بودن آوایی شان - تناسب موسیقایی عجیبی را در شعر- ایجاد می کنند . این روش به عنوان برجسته ترین رویکرد در شعر مولانا - و در بسیاری از غزلیات دیوان کبیر- قابل رویت است.

عنصر موسیقی در غزل های مولانا ، مولود «جذبه و سماع» عارفانه است؛ گاهی بار این موسیقیت به حدی سیلانیست که در غزل مشهور «بی همگان بسر شود..» با وصف هنجار شکنی مولانا از کاربرد قافیه های متعدد در سراپای یک غزل، «ردیف» جای قافیه را پر می کند و شاعر سر مست از جام اندیشه، غزل را با ردیف پی میگیرد و خلاء قافیه را با هم آوایی و آهنگین بودن و اژه ها پر میکند:

بی همگان بسر شود، بی تو بسر نمی شود

*** داغ تو دارد این دلم، جای دگــــر نمی شود**
**دیدهء عقل مست تو، چرخهء چرخ پست تـو**
*** گوش طرب به دست تو، بی تو بسر نمی شــود**
**جان ز تــــو جوش می کند، دل ز تو نوش می کند**
*** عقل خروش می کند، بی تو بسر نمی شود**

با آنـــــکه در بیت نخست واژه هــای «بسر» و «دگر» قافیه اند؛ اما با توجه به اصل رعایت مسألهء قافیه در چارچوب یک غزل، بیت های دیگر، قافیه ندارند و صـــــــرف به کاربرد ردیف« بی تو بسر نمی شود» بسنده شده است .

**کاربرد واژه های هم معنا:**

واژه های هم معنا در این غـزل مولانا (و در بسیاری از غزلهای دیگرش) و جناس های واژگانی در ســــراپای این غزل، خود را می نمایانند مانند: به کارگیری واژه های «جاه و جلال» و «ملـــکت و مال» در بیت پنجــم و «مونس و غمگسار» در بیت دهم.

به کارگیـــری پارادوکس های ( تناقض نمایی) لفظی:

پارادوکس Paradox ( تناقض نمایی) در لغت ، به مفهوم موضــــوعی است « که در ظاهر ناسازگار و مخالف عقل سلیم است، بی آن که الــــــزاماً غلط باشد.»درتعبیر دیگــــــر: پارادوکس عبارت است از آوردن "مفهوم تناقض نمایی که در آغاز درست به نظـــــر می آید."

مولانا با توجه به میزان اثر گذاری اندیشه اش در بسیاری از موارد، از روش ایجاد پارادوکس های لفظی و معنوی استفاده نموده است.

غزل مشهور بی همگان بسر شود...» از شمار آن غزلهایی است که شاعر در برخی از موارد، از این روش هنری در کاربرد «کلمه و کلام» - به فراوانی – کار گرفته است. به گونهء مثال استفاده از واژه های «وفا» و «جفا»

**بقیه ٥٤**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غږ چینه



**انور وفاسمندر**

**شعر په یوه مانا ریتم دی، آهنګ دی، هارموني دی، او شعر انډول دی.**

که موږ د وني په پاڼو د باد د څپو اوریدلو ته کښېنو، نو هغه هم یو شعر را اوروي. خو بې مانا!
که چېرې د مرغه ناري واورو، نو بیا د شعر ځانله کالب اورو خو بې مانا.
ډېر غږونه دي چې ریتم او اهنګ لري، خو مانا نلري یا موږ یې په مانا نه پوهېږو یا موږ تر اوسه نه دي مانا کړي، نو هستي ټوله شاعرانه شوه او زموږ غوږونه بیسواده!
موږ د ماناوالي ژبې شعر اورو، زده کوو او شعر بیا لیکو، خو څه وخت به د باد او سیند، توپان او باران، لمر او سپوږمۍ د غږونو شعر په یوه نوې ټولګه کې انځورو؟
هی هی، د طبیعت هر غږی ژوندی شعر دی. باد شعر دی او توپان ژوندی شعر دی. پسرلني نیاګی او د ورانو زیارتونو وچې ونې شعرونه دي. غر او په غره کې ویده ماران او د ګوربت خالي شعرونه دي. دنیا د شعر له جنس څخه جوړه ده او زه له کتاب پرته شعر نه لرم.

***

خمکه د اروا ښوونځی دی. اروا ددې لپاره د بدن جامه اغوستي، چې د خدای وینې او اګاه همکار او خدمتګار شي؛ بدن د اروا موقت کور دی. اروا شپه او ورځ د خپل کور په لور ګوري. د اروا کور په نور او صوت کې دی.
موږ د عمر په دام کې د زوکړې، ځوانی او زړښت له ستوني تیریږو او دا خپل سرنوشت ګڼو، خو اروا تلپاتی دی. اروا د حال په زمان کې دی، او د خدای زمان دی. اروا د کالبوت په خاورین کور کې خوب وړي او داسې ګڼي چې ذهن ډېر هوښیار او غمخور سلطان دی.
اروا به د غږ او رڼا د جام په ځښلو سره راویښیږي او د ذهن پاچاهي به پرخان پای ته رسوي. اروا د غږ په سپوږمکی کې خپل ورک وطن ته ستنږي.

***

موږ هغه څه یو چې باید واوسو. موږ پخپل دقیق موقعیت او شرایطو کې یو. روح ددی لپاره د کالبوت په خاورین کور کې دیره شوی چې د ازادۍ عشق او حکمت په لاره کې خپلې زده کړې بشپړې کړي، نو ټول هغه څه یو چې باید واوسو. آه موږ هرڅه لرو، موږ ټول اړتیا وړ څه لرو؛ نور او غږ د روح غذا ده. شکر خدایا پردې شیبه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

شپه پخه ده. زموږ فزيکي غړي هم ورو ورو ارام کوي. دغو غړو کړی ورځ خپلې چارې ښې سرته رسولي، او اوس ارامی او چوپتيا ته ليواله دي. د لاسو، پښو له ارام پاتې کيدلو سره سترګې او غوږونه هم ارام کوي، ذهن هم ويديږي، خاطرې او انګيرنې هم هيريږي؛ خو په دې لوی سکون کې د موږ دننه نور حواس راويښيږي. موږ د بلې سترګې له لارې نه پيژندلې ځمکې او هستۍ ګورو. موږ بدن نلرو خو ګورو. پښې نلرو، خوځرځو. خوله او ژبه او غاښونه نلرو خو غږيږو. غوږونه نلرو، خو اورو. موږ هيڅ ځرګند حسي غړي نلرو، خو هرڅه حس کو، ښا ګلان، رنګونه ښکلاوې، او ددغه جنت ټوله تجربه وړيا ده او دا زموږ لپاره الهي ميلمستيا ده، نو زه هم تاسو او ځان پريږدم چې د خيال په سترګه د اسمانونو په ميلمستيا ووځي.

***

موږ د غږ سندربول يو. موږ د غږ روباب او شپيلۍ ، ويلون او سرنده ياستو. موږ خپل اصل غږوو.

غږ زموږ اصل دی. غږ په موږ کې بهيږي. د موږ زړه پر هغه زاړه او لرغوني شاعر ډک دی. شاعر زموږ د زړه دنيا په خپله مينه خوځوي، او موږ مينه کوو، ځکه چې پرته له مينې هيڅ شی وجود نلري. ټول غږونه مو د مينې لپاره دي. نومونه مو د مينې په لور پلونه دي. موږ په مين کلام سره د مينې کيهان ته ور درومو.

***

غږ عاشق دی. غږ عشق دی. هر غږ په معشوق پسې يوه ورکه چيغه ده.

موږ غږيږو، ځکه د عشق په کور پسې لاره نيسو. غږونه زموږ پلونه او ګامونه دي د هغه سپين يار په لور.

موږ په غږ کې بيرته کور ته ستنيږو. غږ دکور لاره پيژني، او دادی بيا هم پل پورته کوو.

***

یو فلم معمولاً دوه ساعته وي. که موږ د فلم هره دقیقه په یو مخ کې ولیکو، یو سل او شل مخه سناریو به ولرو.




موږ کولی شو دغه یو سلو شل مخه په دریو برخو ووېشو: له لومړي تردېرشم مخه، له دېرشم تر نویم مخه، له نوییم تر یوسلو شلم مخه.

د فلم په لومړیو لسو دقیقو او یا د سناریو په لومړیو لسو مخونو کې باید مخاطب پوه شي چې اصلي کرکټر څوك دی؟ څه مشکل لري؟ څه غواړي؟ اړتیا یې څه ده؟ او فلم د څه شي ثابتول غواړي؟ (د شکسپیر د اتللو په ډرامه کې ددې خبرې د ثابتولو هڅه شوې ده چې حسود او رخه ګر بنیادم هم خان تباه کوي او هم هغه څوك چې خوښېږي یې.)

د شلم او دېرشم مخ تر منځ معمولاً یو مهم پېچومی وي، یوه داسې پېښه رامنځ ته کېږي چې د فلم کیسې ته نوی لوری ورکوي.

منځنۍ برخه (د فلم له دېرشمي تر نویمې دقیقې پورې) د تکړ او مخامخېدنې اصلي ساحه ده.

د فلم د اتیایمې او نوییمې دقیقې تر منځ معمولاً له دوهم لوی پېچومي سره مخامخ کېږو او د فلم کیسه نوی لوری خپلوي.

د منځنۍ برخې وروستۍ دقیقې د غوټې پرانستنې (resolution) ته لاره اواروي.

وروستۍ برخه (له نوییمې تر یو سلو شلمې دقیقې پورې) د غوټې پرانستنې لپاره ده.

د سینما د هنر خینې ماهران وایي چې ښه فلمونه اکثره وخت همدا ذکر شوی جوړښت لري. د سناریو زده کوونکي کولی شي نوموړي جوړښت ته په پام فلمونه مطالعه کړي او وګوري چې آیا په لومړیو لسو دقیقو کې د فلم په موضوع پوهېدلې او موضوع یې خوښه شوې ده؟

آیا تر دېرشمې دقیقې پورې د فلم لوری بدل شوی دی؟

آیا تر نویمې دقیقې پورې د فلم په کیسه کې بل لوی بدلون راغلی دی؟

د سناریو د لیکلو لپاره تر هر څه ړومبی موضوع پیدا کړئ یعنې دا ومومئ چې څوك د څه لپاره، څه کول غواړي او له کومو خنډونو سره مخامخ دی؟

د سناریو تر لیکلو دمخه اول د اصلي کرکټر یا کرکټرونو اړتیاوې معلومې کړئ بیا یې سوانح ولیکئ. دا سوانح ممکن په درې څلورو مخونو یا حتی په لس دولس مخونو کې وي.

د کرکټرونو او په تېره بیا اصلي کرکټرونو په هکله کې د معلوماتو لرل د سناریو د لیکلو په وخت کې زموږ کار اسانولی شي.

بهتره ده چې د کرکټرونو او په تېره بیا اصلي کرکټرونږ په هکله کې بشپړ تصور ولرو. کرکټر باید د ظاهري بڼې، اجتماعي حالت او روحي وضعیت له اړخونو مطالعه شي.

پاتې ۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تأثیر گذاری سینمای افغانی



## نقد بر روال

سینمای افغانی ، با پیشنهء تاریخی خویش که ازفلم « عشق و دوستی و مانند عقاب » آغازشد وبا فلم روزگاران، نخستین تولیدی است افغان فلم به راه افتاد ودرزمان کوتاه گام به گام موسسات ،تهیه کننده گان انفرادی ایجاد وبا تولیدات فلم های داستانی هنری وفلم های مستند ( داکو منتری) در نوارهای سینمایی ۷۵ ملی متر، ۳۵ملی متر و۱٦ ملی متر رنگی و سیاه و سفید ، نوار تلویزیونی باساختارهای متنوع از سینماگران پرتلاش و صاحب آزمون در سطح ملی و بین المللی راه باز کرده و افتخارات را تا آخر دههء شصت به کشور به ارمغان آورده بودند.

دریغ و درد که سینمای افغانی همچو دیگر پدیده های علمی و فرهنگی به مثابهء یک پدیدهء مثبت وتأثیرگذارروی روان تماشاگران ازانعکاس سلسله واقعیت ها درچوکات داستان فلم ، اندیشه های انسانی وسازنده ، افراد جامعه در گذشت روز گاران شان تلقی می شد. گرچه درآن زمان ، از سوی دولتمردان ومسوولین مورد حمایت ، پشتیبانی و ارزش مندی قرار می گرفت ، بنابر وقوع حوادث و بحران صدمهء شدید دید و مدتی از روند تکامل باز ماند و حتی دو پدیدهء عالی و انسانی ( سینماو موسیقی) را حرام دانستند واز حرکت باز داشتند؛ ولی همانگونه که هرشب تاریک روز روشن رادرپی دارد ، روزگاران تلخ و بحرانی نیز رخت بر بست و صفحهء جدید جهت آرامش فکرو تلاش به وجود آمد، کشور به سوی آبادانی ، نوسازی و پیشرفت در عرصه های مختلف ره گشایی نمود که درین روند ، سینمای افغانی با یک موج نو و




استفاده از راه خود را دو باره با مساعی سینما گران پیشرو و آگاه وجوانان مستعد دنبال نمود که تاپایان دم مادر ساختارهای فلم بلند و کوتاه هنری ، مستند از سینمای مجرب خویش ( مردان وزنان ) است فرآورده هایی در سطح ملی و بین المللی داریم که عدهء شان مشمول رقابت درجشنواره های فن آوری معاصر داخلی و بیرونی و امتیازات و افتخاراتی را نیز از آن خود نموده اند.

اما با وجود این گام های استوارو موفقیت آمیز، بعضی ازساخته های فلمسازان ما دارای کاستی ها، نواقص تخنیکی و محتوایی می باشد که نیازمبرم به راه اندازی نقد و بررسی ها دارد .

در حالیکه در گذشته ها آثاری از مولفان عرصه مختلف علمی هنری ، فرهنگی مانیز در بوتهء نقد قرار می

(c) ketabton.com: The Digital Library

به همراه داشته باشد.

همچنان رو نق یا بی محافل نقد نظردرمورد فلم های افغانی مارا به جادهء فرهنگ پذیرش می کشاند و از جانبی سخن مارا با بیان روشن به گوش مسوولین امورنیزمیر ساند تا آثار فلمی ما ارزش و اهمیت فراوان کسب نمایند.



گرفت و از آن مؤلفان و علاقمندان رشته ها بهترثمره می گرفتند ، نظر یات سفید و سودمند منتقدان را پذیرفته و درآثار بعدی انها در نظر گرفته و تطبیق می نمودند.درحال حاضرنقدو بررسی درمورد فلم های هنری ( داستانی ) و فلم های مستند ( داکومنتری)همانطور براصول نقد بر محور ارزیابی ، بررسی ، تحلیل و تجزیه وانالایز(ANALIZE) اثر می چرخد ، تاسره را از ناسره منتقد جدا کرده عیوب و یا محاسن اثر را بر شمارد و صمیمانه و واقعبینانه مؤلف یا صاحب اثر را به سمت معین رهنمایی کند.

بربنیاد این هدف وبه منظوررشد سینمای افغانی نیازمبرم به نقدو بررسی دارد و کار گردانان ( فلمسازان) تهیه کننده گان ، نویسنده گان و خلاصه تصویر بـرداران ما وهمه دست اندر کاران سینمای افغانی بهتراست نقد را پذیرند و به جریان راه اندازی نقد و بررسی که صورت می گیرد بپیوندند و آنرا مخلصانه دنبال کنند.

این جاست که تأثیر گزاری نقدو بررسی دربارهء فلم های افغانی رواج پیدامی کند واهمیت آن بلند تر وقـویتر می گردد ، فلمسازان ما آرام ،آرام متوجه مي شوند که فـردا فلم شان و یا اثرشان دربوتهء آزمایش ونقد قرارمیگیرد. پس سعي میورزند تا محتاط باشند و درمورد اثر خود از نخستین روز اقدام به کار ، فني و مسلکی فکر کنند نه ذوقی و آماتوری بلکه همه موازین را درنظر داشته دریابند تا روی موازین کارو بینش فلمسازی در ساختار های خود عمیقا" بیندیشند تا اثر شان عاری ازعیوب بوده و محاسن را





(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب اوفرهنګ

پرمختیاوې ګنو چې نقشې یې زموږ د تیرو نسلونو له ذهنونو راوتلي. بشر په خپله ذهني کلا کې دیره دی. همدا ذهني کلا یې فرهنګ دی، دبدبه یې ده او د هیلو ښار یې دی.

د تخنیک او تکنالوجۍ د عصر انسان یو ویشلې او ټوټه ټوټه انسان دی. له ده که د کیمیا او فزیک او بیولوجۍ کتابونه ټول کړې، نو مخامخ د ډېرې عصر ته ور کډه کیږي. موږ څمکه په خپله فرهنګي هندسه پوښلې. دا مادي فرهنګ انسان پنځولی. نو ښکاري چې مادي فرهنګ ماده دی، هومره چې ډبره، ګل، غر، ستوری، او هر بل څیز ماده دی. موږ د مادي-فرهنګي اشباع په عصر کې ژوند کو. انسان لوی کمیت له خپل ذهنه تولید کړی. کمي فرهنګ ورو ورو او ښایي د لوی بشري سرنوشت په پرتله ډیر ژر زموږ کمي تولید د لګښت له کچې لوړ وخیژي او اړ وځو چې ښکلې، رنګ شوي، صیقل او موښل شوي تولیدات سیندونو او سمندرونو ته وغورځول شي، څکه روان مالي-اقتصادي بحران ددې زنګ کړنګا پورته کړې.

نن زموږ ګیډې مړې دي. نن زموږ بدنونه په جامو پټ دي. نن د شپې له پاره هرڅوک تر یوه چت لاندې خوب تیرولای شي، خو خوند، ښکلا، مینه، ارامتیا، او هغه سوکاله چاپیریال چې زړونه مو پکې وزرې وکړي او خپل لوی سفر په لور والوزي، چیرته دي؟ موږ چا لوټ کړي یو؟ زموږ له خوبونو او خیالونو ډکې شپې چا را څخه غلا کړې؟!

د فرهنګ برخلیک له ذهن څخه راوتي. ذهن څه لري؟! زه چې په هغه ورځ دنیا ته راغلم زما ذهن څه درلودل؟ ننني فکرونه، باورونه، اندیښنې، ښه راتلل او بدراتلل زما په ذهن کې له کومه شول؟ دا زایقه ما څرنګه زده کړه؟ زه څرنګه په دې پوه شوم چې دغه راز ژوند، فکر، باور، اخلاق لرل غوره او د نورو ښه نه دي؟ ما کله دا تجربه کړه چې زه پر نورو اصیل، ژغورل شوی او د ډاډمنې را رواني خاوند یم؟!

### د ذهن هندسه:

زه د ذهن له فزیکي-مادي هندسې او د سلولونو د مرګ او ژوند په اړه څه نه وایم. زما د خبرو لوری د ذهن ذاتي کړه وړه دي. له دې لامله ذهن په څلورو برخو ویشل کیږي:

دوه لومړۍ برخې یې چې مخامخ له فزیکي حواسو سره اړیکه لري او باندنۍ نړۍ د هغو له لارې ذهن ته ورننوځي، د (خوش ایندها و نا خوش ایندها) یا ښه را تللو او بدراتللو په نامه را یادوو. ددغو دوو برخو کار دادی چې له فزیکي حواسو ترلاسه کړي توکي ښه یا بد وګڼي(روا/نا روا).

زه تازه ماشوم یم، نه مې څه بد راځي او نه ښه، نو څوک ما ته را ښیي چې زه یــو څه ښه یا بد وګڼم؟ کورنۍ، کوڅه، ښوونځی، کارځای...پرله پسې ماته وایي چې څه ښه دي او څه بد!

په دې توګه زموږ انګیرنې ذاتي نه دي، بلکې کسبي دي. هغه څه چې زه یې د ښو او بدو په لستونو کې کتاروم، د پلرونو، تیرو نسلونو فکرونه، باورونه، تجربې او ذایقې دي. انسان چې څومره په دې بهیر کې ډوبیږي، له خپل فطرت سره چې نړۍ ته په بې‌طرفه دریځ ګوري، لیرې کیږي.

کوم څه چې زه یې د خپلې کسبي پوهې او معلوماتو له مخې ښه یا بد نوموم، د ذهن دریمې برخې ته ځي. دا برخه د عقل او قضاوت برخه ده. دلته هغه قضاوتونه سر را اوچتوي، چې پلرو او نیکونو غوره بللي. په دې توګه زه د یوه جلا او خپلواک فرد په توګه بې‌حرکته پاتې کیږم، په ما کې د نورو فکرونه، باورونه او قضاوتونه د عمل جامه اغوندي او زه نو د ځان خاوند نه شوم، زه ژوند نه کوم.

نو انتخاب او قضاوت ما ونشو کـــړای. نورو، تللو نسلونو، مړیو زما پـــــرځای قضاوت وکړ. چاته یې مډال او چاته یې هم د چاندماری برخلیک وټاکه.

ددې برخې د کار له بشپړیدلو وروسته د ذهن څلورمه برخه په عمل لاس پورې کوي. دا د ذهن هماغه اجرایي برخه، هماغه لـــرغونې(زه) ده. هغه څه چې ما په عادتي توګه ښه او بد، روا او ناروا، سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تور، اسماني او شيطاني وپيژندل، ددغې برخې له خوا په لوړ غرور د عمل ډګر ته را وځي. نو چې زه دا ډول يرغمل شوی وم، له ما څه وشول؟! له ذهني–مادي فرهنګ څخه څه وشول؟!

موږ هرڅه وموندل، موږ د ځمکې، د سيندونو، غرونو، وچو دښتو، ځمکې کې پټې زيرمې ټول وموندل، خپل بيرغونه مو پرې ورپول، خو د هستۍ خاوند مو ورک کړ. او تر ټولو غټ او ستر را څخه ورک شو. موږ هرڅه وينو، هرڅه اورو، خو هغه نه وينو او نه اورو او نه هغه نيږدې را سره شته«هغه سترګې چې ونشي کولای خدای ووينې، په څه درد خوري.

هر فعاليت بايد خدای ته يو کار وي...که چېرې په هرڅه کې ښکلا ووينې، له هرڅه به خوند اخلې»

دا را نه ورکه لار، دا د هرڅه شته څښتن، او دا لومړنی برخليک به څنګه مومو؟

په خپلو کاغذي مالوماتو څه کولای شو!

ذهن تر کومې پوړې الوت کولای شي!

لارې ته ورتللای شو، خو نه په فزيکي پښو، څښتن موندلی شو، خو نه په فزيکي سترګو! څوک خبر ښايي دا لار له دننه وي. ايا کله مو دننه سر ورښکاره کړی. ايا کوم ځل مو دننه څه ليدلي!

ايا کله مو د خيال وزرې ښه په خلاص زړه او ډاډ سره پرانيستي. يو ځل به وګورو، يو ځل به په خيال کې والوزو، چيرې به ولاړ شو چې ورک شو! نه ورکيږو، خدای هرچيرې شته!!

«خدای ولې د خلقت داستان دا ډول وليکه!» فرهنګ ددې پوښتنې له پاره څه ځواب لري؟

خدای هرڅه ښه او ښکلې پيداکړي. «ذهن په روح نه پوهيږي. د ذهن کلمې خوښې دي. د ذهن نښه او سمبول خوښ دي. لوبه يې خوښه ده. او ژوند ذهن ته يوه کيسه ده، يو داستان دی، چې په هغه کې دنيا ته راځي، يو شمير پيښې تيروي او مري. دا ډول فرد ته ژوند په خپله خدای دی!» نو که له ذهنه واوړو، له حواسو را ووځو، په چوپتيا خپل دننه ولاړ شو، ښايي، نه موندلي ځوابونه ومومو.

زه څه يم، څوک يم او ولې يم؟ مرينه د څه له پاره ده، توپيرونه د چا په لاس پنځيدلي دي. هستۍ اشتباه کړې که زما قضاوتونه تياره دي؟ واقعيت لومړنی دی که زما قضاوتونه؟!

فرهنګي انسان همدا هڅه لري، غواړي پوښتنې ځواب کړي، غواړي، خپله معما مانا کړي. او انسان ليکي. يو سل کلن انسان چې وينښه او خوب يوه کړې وي، نشي کولای ټول ليکل شوي کتابونه ولولي. خو سل کاله دمخه داسې نه وه، زر کاله دمخه لا نه وه، او لس زره کاله دمخه انسان کولای شول خپل ټول ليکل متن ژر ولولي او نور څه نه وي چې وخت پرې تير کړي. خو نننی انسان له ډيرو پوښتنو سره مخ دی که هغه لرغونی انسان چې ښايي يو کتاب، يوه صحيفه يې موندله چې ژوند ور سره وکړي .

بې له شکه هغه څوک نه يم چې ددې ليک له پيلولو دمخه وم. رښتيا چې هره شيبه د اګاهۍ نوې شيبه او بله پوړۍ ده.

انسان د واقعيت اوسيدونکی دی. نه واقعيت يا له فزيکي حواسو پټه هستي څه ډول تجربه کيدلای شي؟ د علم، اګاهۍ او معرفيت استاذانو تل يا غږ موندلی يا رڼا. غږ او رڼا د نړۍ د هر خلقت څښ ته پټ دي. موږ دغه دوه را نه ورکې سرچينې څنګه موندلی شو، چيرته ورپسې کډه شو، چيرې هغه موندل کيدلای شي.

په دې غير مادي جنس پسې، مادي قلمرونه او مکاني حرکات نه دي په کار. انسان وړوکی کيهان دی. که انسان ځان ټـــول پرانيزي، دغو سرچينو ته لاره مومي، هغه هم په ځان کې. نو زه څوک يم چې بله خبره را کتار کړم. بس په همدې به سره جلا شو او خپل فردي کيهان ته به ســـــر ورښکاره کړو.

ماخذونه:


حکمت اک

ليکوال: هارولد کلمپ

سخنان ساتيا ساي بابا

ساتيا ساي بابا

مقالات سايت راه جاويدان

خط سوم

(c) ketabton.com: The Digital Library





# عشق پیری



مجمـــــوعهء سی قسمت سریال «عشق پیری» تکمیل و از طریق تلویزیون ملی افغانستان تولید و پخش شد . قرار است آماده گی به خاطر فلم بـرداری قسمت های بعدی سریال نیز گـــــرفته شود فلم نامه نویس سریال توسط یک تیم که در آن همایون فیـــــروز ، عارف بی ریا و غفارظلام اشتراک دارنـد ، نوشته شده است کارگـــــردان صبـور خنجی .

غفارظلام ، یاسمین یارمل و تـــــرینا حمیدی بازیگران اصلی این سر یال می باشد .

# دوو افغاني فلمونو جایزې وګټلې



دوو افغاني مستندو فـــلمـــونـــوپه نیپــــال کې دمستندوفلمـــونوپه فستیوال کې جایزې وګټلې اووستایل شول.

دغه فستیوال دسفما یاد جنــــــــوبي آسیا دآزادو خبریالانودټولنې لخواپه نیپال کې جوړ شوی وه.

په دغه فستیوال کې د شپږومستندو افغاني فلمونوله ډلې څخه د(زندگي درمغاره )او(سرزمین من )دسبا سحر فلم له خوا جوړشوی ده .

فلمونه ننداري ته وړاندې شــــــــوي چې ویل کیږي دلیدونکودېرپام یې خانته اړولی دی.

په خبرکې ویل شوي چې دغه فستیوال دوه کاري برخې درلودې چې یوه یې دفلمونونندارہ کـــــــول،اوبله یې دمستندو فلمونوپه اړه سیمینارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## از نبی تنها چی خبراست



« نبی تنها » هنـــرپیشهء وفلم نامه نویس که بانمایش سریال« بلبل» موفقانه درخشید ونامش سرزبانهاست. اکنون مصـــروف تهیه فلم مستند (وضعیت گدا های شهر ) است . فلم مستندی که قبلاً" تهیه نموده بود ، به نام « چـــرخ اول » درجشنوارهء بین المللی فلم مستند درکابل مقام نخست راکسب کرد .

آقای تنها ادامه سناریو سریال بلبل را نـــــوشته اما منتظرودست به دعا به خاطرتصویب بودجه پولی آن ازطرف وزارت اطلاعات و فرهنگ می باشد.

## سریال افسوس



در آیندهء نه چنـــدان دور، سریال افســـوس از شبکهء تلویزیون ملی به نشر خواهد رسید.

آقای امین رحیمی کارگـــردان سریال « افسوس » در مورد گفت:

این سریال ازخشونت، زور،فشار های روحی برزنان ودختران که بیشتر در خانواده های کشـــورمان دیده شـــده را به تصویرمی کشد.

رحیمی افزود: سناریو را با داکتـــرعبدالواحد نظری یک جا نوشته وترتیب کردیم . تصویر برداری را قاسم نیکزادو تدوین آن عادل رحیمی به دوش دارد.

صدیقه تمکین ، نجیب الله جبارخیل، همایون کوه کن ، شکیب ایمل ،پری غلامی ،عابد فروتن ،ولید صدیقی ودیگـــران بازیگران این سریال اند.

قراراست ده قسمت سریال تکمیل وسپس بخش های بعدی آن نیز تصویر برداری شود. هر قسمت ۲۵ دقیقه می باشـــد . و به زودی از تلویزیون ملی پخش خواهد شد.

## د افغان سینما فلم د اسکار د کلولو په درشل کې

د لومړی ځل لپاره یو افغان فلم اسکار جایزی ته کاندید شوی دی.د «جنګ تریاك» په نوم فلم چې د افغان فلم جوړوونکي صدیق برمك کار دی، د اسکار نړیوالې جایزې د تر لاسه کولو په درشل کې درېدلی دی.

د غه فلم په یوه لړی پراته کلي کې د ژوند انځورونه باسي. د دې کلي په پتیو کې کـــــوکنار کرل کیږي.

د اسکار د جایزې وړونکی فلم به د یرژر به اعلان شي خـو د یوه فلم لپاره دا هم لویه کامیابي ده چې د اسکار جایزې ته د کاندیدانو په لست کې راشي.

## رویا یا حقیقت

رویا یا حقیقت فلم هنری کـوتاه اسلامی انتباهی است.

آقای بهـــرام بریال نویسنده و کارگـــردان این فلم به مسایل همچون : هوس ،حرس ، دروغ، غفلت ، اهمیت و توجه به صداقت و راستگـــویی در امور زنده گی می پردازد.

تهیه کننده دستگیر اعظمی و فلمبردار ی آنرا محمد قاسم نیکـــــزاد به انجام رسانیده است . میر احمد قادری ، غفار ظلام ، اسدالله میرزاد، جعفر نـــوابی ، سلما، ملالی نسیـــر زاده ، راتب ندیم ، عبدالجمیل جوینده و عـــزیز الرحمن بینا بازیگران این فلم است .

این فلم از تلویزیون ملی به نمایش گذاشته شد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سناریو په څنګه لیکو؟

د کرکټر د ظاهري بڼي او فیزیو لوژیك وضعیت د معلومولو په وخت دغو پوښتنو ته ځوابونه په کار دي:

نارینه که ښځه؟ څوکلن دی؟ قد یې څومره دی؟ چاغ دی که ډنګر؟ د پوست، وېښتو او سترګو رنګ یې څنګه دی؟ جسماني عیب لري؟ څنګه جامې اغوندي؟

د کرکټر د اجتماعي حالت د معلومولو لپاره دارنګه پوښتنو ته ځوابونه په کار دي: اقتصادي حال یې څنګه دی؟ څه کار کوي؟ زده کړه یې څومره ده؟ کورنی ژوند؟ (مور و پلار یې ژوندي دي؟ مجرد دی؟ اولادونه لري؟ د کور له غړیو سره یې روابط څنګه دي؟) په کوم دین او مذهب دی؟ د کوم قوم او ملت دی؟ سیاسي باورونه او تړاوونه یې څنګه دي؟ په ذوقي لحاظ له څه سره دلچسپي لري؟ (فوټبال کوي، مطالعه یې خوښېږي؟ او که ....)

د کرکټر د روحي حالت د مطالعې په وخت باید وګورو چې د جنسي مسایلو په هکله کې څه نظر لري؟ له ژونده څه غواړي؟ څنګه خویونه لري؟ په قهرېږي؟ بدبینه دی؟ په ځان غــره دی؟ وسواسي دی؟ په روحي لحاظ مراوي دی؟ له نامعلوم غلیمه وېرېږي؟... استعداد یې څنــګه دی؟ ایا له مورنی ژبې پرته نورې ژبې یې زده دي؟ په څه شي کې استعداد لري؟ .... ځیني ډېر پټ او شخصي عادتونه یې کوم دي؟

موږ کولی شو کرکټر له نورو زاویو هم مطالعه کړو.

دا ضـــــروري نه ده چې د کرکټرونو په هکله کې معلومات په سناریو کې ټکي په ټکي شامل کړو. د معلوماتو له لرلو منظور دا دی چې د کرکټرونو په هکله کې یو شعور ولرو او د سناریو لپاره داسې کرکټرونه وپنځوو چې د مخاطبانو زړه ته پرېوځي.

بنیادم د بل هر ژوي غوندې محتاج مخلوق دی او چې څو پورې یې سا په بدن کې وي د خپلو غوښتنو او اړتیاوو په پوره کولو پسې لالهانده ګرځي خو دغه اړتیا وې بې منطقه نه وي. که د چا اولادونه وږي وي او ورته ژاړي، دی په دې شبېه کې د خپل ښار لپاره د یو پارك د جوړولو هوس نه شي کولی.

کرکټر چې هر څه کوي د اړتیا په بنیاد یې کوي. ممکن بدرنګي وي غواړي لوی کارونه وکړي چې ځان په نورو ومني. ممکن د دښمن له وېرې پټ وګرځي خو که یې دښمن ووژل شو بیا باید د څه کولو لپاره نورې انګېزې ولري.

د داستان په یوه صحنه کې که دوه کسه خبرې کوي او دریم ناست وي، لوستونکی له دریم کسه چندان نه په تنګېږي، خکه نه یې ویني خو د فلم په صحنه کې که کرکټر غیر فعال وي او یا یې فعالیت بې مقصده او بې علته وي، د لیـــــدونکي زړه ورته تنګېږي.

کله چې د سناریو هدف معـــــلوم کړو(یعني په دې ځان پوه کړو چې موږ د خپل فلم له لارې د کوم حقیقت ثابتول غواړو) او کرکټرونه وپېژنو بیا د ډراماتیك جوړښت ( Dramatic Structure) او یا په بله ژبه د پېښو د ترتیب نوبت رارسېږي.

موږ ته باید معلومه شي چې کومه پېښه چېرته په کار ده؟ له هغه مقصد سره څه مرسته کوي چې فلم یې د ثابتولو نیت لري؟ او له کرکټرونو سره یې تعلق څنګه دی؟ په یوه ښه ډراماتیك جوړښت کې هره پېښه په بلې اثر پرېباسي او د مخکینو پېښو (چې د لیدونکي په حافظه کې دي) معنا بشپړوي.

د فلم د کیسې خلاصه (سناپسس Synopsis) د فلم له هدف، مهمو کرکټرونو او د پېښو له ترتیب څخه جوړېږي. د جزئیاتو تر لیکلو دمخه بهتره ده د فلم د کیسې خلاصه برابره کړو. په خلاصه کې دا نه وي څرګنده چې یو عمل څنګه تر سره کېږي بلکې د یوه عمل او پېښې علت بیانېږي او په دې شي رڼا اچول کېږي چې یو عمل له بل عمل سره څه رابطه لري؟

د سناریو خلاصه موږ له جزئیاتو څخه نه خبروي او د کرکټرونو په احساساتو او عواطفو کې مو نه شریکوي. په دې پړاو کې موږ هر څه ته له لرې ګورو. د سناریو د خلاصې او لنډې کیسې یو مهم توپیر همدلته دی. لنډه کیسه که لنډه هم ده خو پېښې او کـــرکټرونه په کې له نژدې وینو.

د سناریو له خلاصې وروسته خامه سناریو (treatment) لیکو. په خامه سناریو کې ډېر جزئیات راغلي وي خو بیا هم کامل متن نه وي. د خامې سناریو د صفحه بندۍ لپاره بهتره ده د هرې صحنې د پېښو خلاصه په کارتونو کې ولیکل شي. ددې کار ګټه دا ده چې د صحنو وروسته وړاندې کول، اوږدول او لنډول او د نویو صحنو لیکل به آسانه وي. د هرې صحنې اصلي مطلب که په یو، دوو کلمو کې د کارت په څنډه ولیکو، ګټه به یې دا وي چې کله وروسته کارت ته مراجعه کوو هر څه به سمدستي رایادېږي. په یــــو ښه فلم کې صحنې داسې سره تړلي وي چې لیدونکی یې بېلېدا ته نه متوجه کېــــږي خکه صحنې له یو بله زېږېدلې وي.

هر فلم لـه شپېته ، اویا صحنو او یا ډېرو جوړ وي. د خامې سناریو په حالت کې ممکن پنځوس ، شپېته صحنې ولرو چې تعداد یې د سناریو په بشپړه بڼه کې شاید اویا، اتیا صحنو ته ورسېږي.

د فلم تر ټولو وړوکی جز شاټ (shot) دی خو د سناریو تر ټولو وړوکی بشپړ جز باید صحنه (Scene) وبولو. صحنه هغه خبرو اترو او پېښو ته وایي چې په یوه زمان او مکان کې پېښېږي او معمولاً یوه موضوع بیانوي.

د څو پرله پسې صحنو له مجموعې څخه د سناریو او فلم "فصل" جوړېږي. د فلم یو فصل (Sequence) ممکن لـه لس ، پنځلس یا شلو صحنو جوړ وي.

فصل د هغو صحنو مجموعې ته وایي چې هم په زماني لحاظ سره تړلې وي او هم د موضوعاتو په لحاظ یو بل ته نژدې وي. د هرې صحنې د لیکلو په وخت لازمه ده هغه ډراماتیك اصول وساتو چې په ټوله سناریو کې باید ورته پام وکړو.

په حقیقت کې هره صحنه یو کوچنی فلم دی.

د سناریو په ابتـــدا کې د بل هر ډراماتیك اثـــردابتدا غـــــوندې لوستـــــــونکوته ځیني ضروري معلومات ورکوو.

په سناریو کې او ډرامه کې د معلوماتو د ورکولو دې برخې ته پېژندګلوي (exposition) وایي. په دې برخه کې لیدونکي پوهېږي چې څوك، څه غواړي؟ ستونزه یې څه ده؟ ولې ستونزه لري؟ مخالف یې څوك دی؟

د یو فلم یا ډرامې په ټولو برخو کې دغسې معلوماتو ته اړتیا وي خو په سر کې زیاته او په وروستیو برخـــــو کې کمه. د سناریو هـــــــره صحنه هم د پېژندګلوۍ برخه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرې صحنې د پيژندګلوي برخه باید د هماغې صحنې اصلي موضوع رامعرفي کړي اودلانجي دواړه غاړي راوپيژني.

د سناریو په ابتدا کې چې کوم معلومات ورکول کيږي که څه هم په کمي لحاظ زيات وي خو ترډيره حده د ظاهري مسايلو په هکله وي. هر څومره چې د سناریو پای ته نژدې کيږو، پيژندګلوي د کرکټرونو لـه روحي حالتونو او پټوګ کيفيتونو سره تعلق نيسي. پيژندګلوي باید هم د سناریو په ابتدا او هـم په هره صحنه کې په داسې انداز نه وي چې ليدونکي ته مصنوعي ښکاره شي.

دا به ښه نه وي چې يوه صحنه ټوله د پيژندګلوی لپاره ښيله کړو او يا پيژندګلوي د صحنې غالبه برخه وګرځي.

پيژندګلوي ګڼې لارې لري. مثلاً د کرکټرونو د خبرواو عملونو لـه لارې. داسې هم کيدای شي چې د يو کور چوکۍ، فرشونه او کوچونه په پيژندګلوۍ کې برخه واخلي.

په هره صحنه کې د ټول فلم غوندي هارموني په کار ده. له هارموني څخه منظور د کرکټرونو داسې ترکيب دی چې ټکر او حرکت او ناکراري څنې پيدا شي. په عالي هاموني کې هر کرکټر د بل کرکټر د خواصو ښودونکی دی. يو انسان په عادي حالت کې خپل فطرت نه راښيي خو که لـه خپل مخالف لوري سره مخامخ شي نو احساسات يې پاربيږي او خپل حقيقت څرګندوي. کرکټرونه که هر څومره هم ژوندي او جالب وي خو چې ترکيب يې سم نه وي، ښه نتيجه نه ورکوي.

په صحنه او ټوله سناريو کې د کرکټرونو دا رنګه ترکيب په کار دی چې ناکراري (disturbance) رامنځ ته کړي، يعنې کرکټرونه په ذهني او روحي لحاظ ناکراره شي او په خپله ګټه د حالاتو د سمون لپاره هڅه پيل کړي. ناکراري لـه لويه سره په دوه ډوله وي: يا د هغو کسانو لـه يو ځای کيدو او مخالفېدو پيدا کيږي چې يوبل نه شي زغملی خو شرايطو مجبور کړي وي چې سره و اوسي او يا د هغو کسانو لـه بيلېدو پيدا کيږي چې د يو بل وصال غواړي.

لومړي حالت ته د اضدادو وحدت (Unity of opposites) وايي او دوهم حالت ته د جوړې بېلوالی (pair separation of).

په لومړي حالت کې باید دوه کسان يا دوه لوري لـه يو بل سره دومره وران وي چې د يوه لوري د ناکرارۍ د ختمولو لپاره د بل ماتول لازمي وي. البته، په عمل کې د بل لوري ماتول ټوکې نه وي، وخت اوزحمت غواړي.

هر څومره چې د دوو کسانو د ضديت ريښې ژورې وي او ورسره يې لـه يو بله رغېدن هم نه وي هغومره به د دوی کشمکش جالب او پياوړی وي. د کشمکش نتيجه خامخا دا نه ده چې مخالف لوري به په فزيکي لحاظ يو بل ختموي. د کشمکش په پای کې ممکن سره روغه وکړي يا کومې بلې نتيجې ته ورسيږي خو په هر حال کې ليدونکی باید تر وروستو شېبېو پوه نه شي چې نتيجه به څه وي.

په هغه ناکراري کې چې لـه بېلتونه پيدا کيږي، د دواړو غاړو فاصله باید د دوی تر وس زياته نه وي، ځکه ناهيلي تري پيدا کيږي، البته د بېلتون لارې باید دومره هم اسانه نه وي چې ليدونکي سمدستي د نتيجې اټکل وکړي.

دلته ددې ټکي يادونه ضرور ده چې نفرت او محبت بې حده رنګونه او ډولونه خپلولی شي. ممکن يو سړی په نجلۍ مين وي خو نجلۍ بد وابسي. ممکن دوه کسه په ځينو مسايلو کې د يو بل دوستان او په ځينو نورو کې د يو بل مخالفان وي.

په يو ډراماتيك اثر کې ناکراري هغه ځای دی چې تعادل لـه منځه ځي او حالات خپل عادي لوری بدلوي. په دې پړاو کې اصلي کرکټر ځان مجبور ويني چې د تعادل د راستنولو لپاره اقدام وکړي او کشمکش پيل شي.

په لويو ډراماتيکو اثارو کې ناکراري او کشمکش معمولاً د کرکټرونو لـه خويونو، فکرونو او عادتونو سرچينه اخلي خو په ګڼو عادي اثارو کې وينو چې ناکراري او کشمکش لـه يو تصادفه زيږي.

په ډراماتيك اثر کې هره موضوع د کشمکش (Conflict) په ترڅ کې بيانيږي.

ډراماتيك اثر چې سم ورغول شي اولـه عناصرو يې په ځای استفاده وشي، ليدونکي ته تلوسه (Suspense) ورپيدا کولی شي.

تلوسې ته که د ډراماتيك اثر يو عنصر ووايو ممکن سمه خبره نه وي. تلوسه هغه کيفيت دی چې د ډراماتيکو عناصرو په ځای استعمال يې، ليدونکو په ذهن کې رامنځ ته کوي. که د فلم ليدونکي ته سودا ورپيدا شي چې څه به کيږي، معنا يې داده چې فلم تلوسه رامنځ ته کولی شي.

تلوسه لـه لويه سره په دوه ډوله زيږي:

۱- د فلم ښه کرکټر غواړي يو د خير کار وکړي او لـه ليدونکي سره تشويش پيدا شي چې هسې نه بدکرکټر يې مخه ونيسي او جنجال ورته جوړ کړي.

۲- د فلم بدکرکټر غواړي منفي کار وکړي او د فلم ښه کرکټر هڅه کوي مخه يې ونيسي. ليدونکي په تشويش کې شي چې هسې نه ښه کرکټر د بدو چارو په مخنيوي کې پاته راشي او بد کرکټر خپل هدف ته ورسيږي.

د تلوسې د رامنځ کولو لپاره تر هرڅه ړومبی لازمه ده چې زموږ سناریو څرګند هدف ولري. ليدونکي که د کرکټرونو په هدف او مقصد پوه نه وي د هغو د عملونو لـه نتيجو سره يې دلچسپي نه پيدا کيږي. بله دا چې کرکټرونه باید روښانه انځور شي. کرکټر که روښانه انځور نه شي او ليدونکي د هغه لـه خصوصياتو سر په لا زمه اندازه بلد نه شي، ليدونکي ته نا اشنا ښکاري. موږ په واقعي ژوند کې هم د هغه چا لـه سرنوشت سره دلچسپي نه ښيو چې نه يې پيژنو. دغه راز د کرکټرونو مناسب ترکيب په کار دی، که کرکټرونه په خپلو منځونو کې د منافعو، مقصدونو، ذوقونو يا عقيدو تضاد ولري نو کشمکش نه پيدا کيږي او تلوسه نه زيږي.

د تلوسې د رامنځ ته کيدو لپاره باید هغه خندونه چې د کرکټر په لاره کې وي، ناڅاپي او تصادفي راپيدا نه شي. تصادفي پيښه يوازې په هاغه شيبه کې چې واقع کيږي تلوسه پيدا کوي خو هغه پيښه چې د واقع کېدو ويره يا امید يې راسره وي، د اوږد وخت لپاره مو په انتظار کې ساتي.

هر انتظار باید منطقي وي او د ډراماتيك اثر لـه منځه راولاړ شي. دا سمه نه ده چې ليدونکي ته د يوې نتيجې د معلومېدو تلوسه پيدا شي خو بيا تر پايه پورې د نتيجې په هکله کې هيڅ ونه ويل شي.

پاتې ۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حرفهء خبرنگاری

زیادی جالب و قابل فهم باشـــــد. در حقیقت خبـــرنگاران مارا در گذار از جنگل اطـــلاعات راهنمایی میکننـــد! برای انجام این وظیفه ، خبـــرنگاران میکوشند با پرسش های زیرکانه هرچه بیشتر دربارهء موضـوع گزارش شان اطلاعات به دست بیاورند.

خبرنگاران غالباً میکوشند شرح وقایع را بدون تعصب، به دور از نظرات و عواطف خودشان ، عـرضه کنند. در برخی جـــوامع ، خبرنگاران خـــود را دارای نقش ویـژه ای میـــدانند: نقش واسطه میـــان دولت و مـردم. خبرنگاران سیاست ها و اعمال شـاخه های مختلف دولت را به مردم اطلاع میـــدهند و در مقابل، نظرات و پرسش های مـــــردم را به اطـــلاع دولت میرسانند. خبـــرنگاران نظر یك گروه خاص، حتی دولت را تبلیغ نمیـــکنند، بلکه تمام نظـــرهای رقیب را منعکس میکنند تا اعضای یك جامعه دمکراتیك بتوانند با توجه به ماهیت آن نظـــرها، در بارهء شان تصمیم بگیرند:

در بهتـــرین حالت، رسانه ها باید تمام اطلاعات لازم بـــرای تصمیم گیری درمورد تمام مسایل زندگی مانند امور سیاسی ، اجتمـــاعی ، اقتصـــادی و فرهنگی را در اختیاز مردم بگذارند. خبـــرنگار حـــرفه ای کسی است که بتواند حس کنـــد چه مسایلی از نظر مردم مهم است و بتواند با پیگیری و جمع آوری اطلاعات بیشتر، موضوع را بهتر درك کند.



خبـــرنگاری که هم با جامعه ارتباط داشته باشد و هم مسایل را از دید گسترده تری دنبال کند، خواهد توانست با توجه به پیوند میان پدیده ها تصویر دقیق تر و جامع تری را به مردم عرضه کند.

خبرنگارکجا کار میکند؟

زمینه های کار خبرنگاران متنوعند و همواره بر تعداد آنها افزوده میشود. خبرنگاران با این ابزار ها و منابع سروکار دارند:

* روزنامه ها ، مجله ها و نشریات تخصصی
* ایستگاه های رادیو
* ایستگاه های تلویزیون
* خبرگزاری ها
* دفتر های روابط عمومی
* « خبرنوشته» های تلویزیونی
* اینترنت
* نمایشگاه های عکس

برخی خبـــرنگاران که عنوان آزاد درمورد آنها به کار میـــرود ،برای خودشان کار میکنند و مطالبشان را به رسانه های متعددی عرضه میکنند.

بیشتر خبـــرنگاران دربارهء مسایل متنوع گزارش میدهند؛ اما برخی از آنان در زمینه های مشخص تخصص پیدا مکنند، مانند:

* امور سیاسی( داخلی یا بین المللی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

* امور اجتماعی
* طبی
* فرهنگ و هنر
* بازرگانی و اقتصاد
* ورزش

ویژگی های خبرنگار حـــــرفه ای چیست؟

آیا خبرنگار « حرفه ای » باید ویژگی های خاصی داشته باشد؟ اگر پاسخ مثبت است ، این ویژگی ها کدامند؟ مربیان بی بی سی همواره با این پرسش روبه رو میشوند. به نظر میرسد بیشتر اشتراك کننده گان در دوره های آموزشی عقیده دارند که یك خبرنگار خـــوب باید خصلت های خاص داشته باشد. این خصــــلت ها عبارتند از:

* کنکاوی غریزی
* بلوغ فکری و احساس مسئـــوولیت
* اطلاعات عمـــومی گستــــــرده
* خلاقیت
* بردباری و پشتکار
* شجاعت
* انصاف ، صــــداقت و شخصیت
* ذهن مستقل و پرسشگر

همچنین از یك خبرنگار خوب انتظار میـــرود برای این کار استعداد داشته باشد، به مخاطبان خـــود واقعاً علاقمند باشد، و با تمام بخش ها ولایــــه های جامعه تماس و ارتباط داشته باشد.

در برخی کشور ها ، برخی ؛ اما نه همه ، خبـــــرنگاران معتقدند برای موفقیت در کارشان باید بایك جناح قدرتمند، مثلاً یك قبیله یا گروه مسلح ، هم ارتباط داشته باشند تا بتـــوانند کارشان را در امنیت انجام بدهند.

خبرنگار باید همواره بکوشد دانش حرفه ای و توانایی های فنی خود را تازه نگه دارد.

البته هرشاخه ای از کار خبرنگاری به مهارت های خاص خود نیاز دارد. خبرنگار رادیو باید صدای صاف، گوش نواز و اطمینان بخشی داشته باشد: در یك روزنامهء کوچك، ممکن است از خبرنگاران انتظار برود که صفحه بندی بدانند. باگذشت زمان، خبرنگاران بیش از پیش وظایفی را بر عهده میگیرند که در گذشته بر عهدهء کارکنان فنی بـود از جمله تصــــویر برداری در تلویزیون و ویرایش صدا در رادیو. توانایی کار در رسانه های متعدد، مثلاً در رادیو وتلویزیون ، یا در مطبوعات و اینترنت، نیز می تواند امتیاز بزرگی باشد.

این وضع برای بسیاری خبــــرنگارن



مشکل می آفریند: از یکســــو، ممکن است فردی نویسنده یا مجری بسیار تــــوانایی باشــــــد، اما به کار با کامپیوترعلاقه ای نداشته باشد. چنین فردی حس خواهد کرد که در مسابقهء پیشرفت فنی عقب خواهد ماند؛ اما این روزها تقریباً هرکس میتواند مهارت های اولیهء طراحی صفحات اینترنت یا ویرایش سادهء صدا و تصــــویر را فرا بگیرد.

خبرنگاران باید همواره بکوشند دانش حرفه یی و توانایی های فنی خود را تازه نگه دارند. مهارت های فنی را همواره میتوان افزایش داد؛ اما هدف اصلی آن است که خبرنگارتوانایی تتشخیص، گردآوری ، تفکیك ،ارزیابی ، و نتیجه گیری از اطلاعات را داشته باشـــــد. به دست آوردن این مهارت کاری است که عمری طول میکشد و به پایه ای استوار نیاز دارد. رسیدن به این هدف ،بسیار دشوار تر از کسب مهارت فنی است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آوازخوان وآهنگ ساز کشور

انگلیسی آنرا ( چنت ) میگویند، مانند " بابه زنجیر باف "، " قوقو برگ چنار" و " دویدم دویدم " .

این نکته هم گفتنی است که در این مجموعهء ترانه ها، برای اولین بار آهنگ الفبا یا با الفبای زبان دری آهنگ ساخته و ترانه های پشتو، ازبیکی و هرازه گی را نیز شامل آن نمودم.

پرسش: آیا از این مجموعه ی ترانه ها که مجددا" به چاپ رسیده، به افغانستان هم فرستاده شده است ؟

پاسخ : بلی، به تعداد سه هزار جلد آن به وزارت معارف سپرده شد تادر اختیار کودکان افغانستان قرار داده شود.

پرسش: چنانکه هموطنان عزیز ما مطلع هستند، شما از چند ین سال تا اکنون، در بخش های نوازنده گی، تنظیم موسیقی، اواز خوانی و اهنگسازی اشتغال دارید، لطفا" بگویید علاوتا" از آهنگهایی که شخصا" آنها را خوانده اید، چه تعداد کمپوز یا ساخته های خود را در اختیار سایر آواز خوانان قرار داده اید و در این زمینه، چه اصل و معیاری را در نظر دارید ؟

پاسخ : در موقع آفرینش هر اثر هنری، بیش از همه به این نکته می اندیشم که شنونده‌ءاثر، جوهر، مایه و فرم های موسیقی اصیل سر زمین مان را در آن احساس نماید . علاوتا، همیشه سعی میکنم تا اثر آفریده شده از تراوش های ذهنی خودم باشد تا بتوانم بدون کوچکترین وسواس، کار خودم را در برابر موسیقی شناسان افغانی، ایرانی، هندی، تاجیکی و امثالهم، کار و اثر شخص خودم معرفی کنم . منحیث مثال باید بگویم که وقتی بخواهیم مضمون یا مطلبی را به زبان دری یا پشتو و یا هر زبان دیگر انشاد نماییم، ناگزیر خواهیم بود از واژه ها ی زبان مورد نظر با رعایت قواعد و ضوابط شناخته شده ی آن استفاده به عمل آوریم. پس، موسیقی هم واژه ها، ویژه گیها، سبکها و ظرافتهای موسیقایی خاص خودش را دارا می باشد. مثال دیگر : هرگاه بخواهیم یک آهنگ افغانی به سبک موسیقی پشتو بسازیم، باید در کلیت آن، شناختی از سبکهای موسیقی پکتیا، لوگر، مشرقی، وردک و جا های دیگر داشته باشیم و مقام های مروج سبکهای مذکور را بدانیم تا فرم موسیقی خود مان را نگهداری کرده بتوانیم .

پرسش : تاکنون کدام هنرمندان از ساخته ها و کمپوز های شما استفاده کرده اند ؟

پاسخ : تا اکنون، این آواز خوانان عزیز از کمپوز های من استفاده نموده اند : استاد مهوش، خانم سلما، خانم پرستو، خانم هنگامه، خانم سیما ترانه، ماریاعیار، وجیهه رستگار، سپیده، مریم وفا، ناهید، مژده، احمد ولی، رحیم مهریار، محبوب الله محبوب، وحید صابری، خسرو، مختارمختار، احمد طاهر، سید عمر، حبیب قادری، مامون، سیرعزیزی، خالد ناصری، یما لودین، رامین شریف و عمرشریف، شکیب عثمانی، تیمور جلالی، وحید فضلیار، فردین روستا،ویس عندلیب، نصیر احمد و از هنرمندان غیر افغانی مانند نوش آفرین ( ایرانی )، انورادا پودال ( هندی ) و آشابهوسلی ( هندی ) .

پرسش: فکر میکنم صحبت ها آرام آرام به عمق موضوع موسیقی نزدیک و نزدیکتر می شود . حال که چنین است، بهتر خواهد بود اندکی روی الفبای موسیقی روشنی انداخته و باز به اصل مطلب بپردازید ؟

پاسخ : الفبای موسیقی در سراسر جهان، همان هفت پرده ی موسیقی است و بدین گونه :

**( Do Re Mi Fa Sol La Si )**

که اجرای قطعات موسیقی سازی و آوازی روی پرده، نیم پرده و کوچکتر



(c) ketabton.com: The Digital Library

پرسش: وضعیت موسیقی افغانی در داخل و خارج از کشور را چگونه ارزیابی می کنید ؟ چه کمبود ها یی را در یافته اید ؟ و چه نظر یا پیشنهادی غرض بهبود وضعیت موسیقي اصیل افغانستان دارید ؟

پاسخ : وضعیت موسیقي امروز افغانستان، پریشان تر از وضعیت سیاسي و اجتماعي آن است . در داخل و خارج کشور هیچ مرجع و کانون هنری وجود ندارد تا آثار تولید شدهء هنری را از مرحلهء آفرینش تا مرحله یی که به دست نشر سپرده میشود ؛ نظارت کرده و در رفع کمبود ها و نقایص کار کند و همه به این باوریم که موسیقی خوب و شعر خوب، ذوق ها را می نوازد و ارتقا میدهد و هرآنچه خلاف آن باشد، ذوق و ذهن شنونده را می آزارد . البوم های هنر مندان نامدار و سابقه دار ما، در مغازه های سراسردنیابه گونهء غیر قانونی کاپی شده و به فروش میرسد و یا از طریق سایت های انتر نتی کاپی برداری می شود . در سالهای پسین، اثر یا تولید جدید از هنرمندان تثبیت شدهءمردمی به دسترس قرار ندارد. زیرا همهءآنان متأسفانه از حمایت و پشتیبانی مادی و معنوی محروم می باشند . نشرات تلویزیونی برون مرزی هم در این عرصه برنامه های منظم نشراتی در راه جلب حمایت از موسیقی اصیل افغانی، هنرمندان و سبک های موسیقی وطنی ندارند . نشرات مربوط به موسیقی را خود مشاهده می کنید و ضرورت به توضیح بیشتر نخواهد داشت . با تأسف باید گفت که ما هنوز از شناخت درست موسیقی خودمان عاجز هستیم . همچنان از توضیح و معرفی موسیقی زندهءکشور مانند : موسیقی هزاره، پکتیا، نورستان، ترکمني و ده هاي دیگر ناتوانیم، زیرا اطلاع نداریم که ریشه ها و پیوند های اصلی موسیقی ما تا کجا ها میرسد . به قول مولانا که فرمود :

گفتم ز کجایی تو ؟ تسخر زد و گفت
ایجان نیمم ز ترکستان، نیمم ز فرغا نه

پرسش: منظور شما از شناخت درست موسیقی خودمان چیست ؟

پاسخ : بلی، منظور م اینست که بخش بزرگ موسیقی کشور عزیز ما، یعنی همان سبکهای موسیقی که تا اکنون مورد شناسایی و پژوهش قرار نگرفته و با تات های موسیقی کلاسیک هند مطابقت کامل ندارند، ریشه د ر دوازده مقام قدیم سر زمین افغا نستان داشته و تا جایی که نتایج تحقیق و پژوهش علمی کشور های همسایه نشان داده است، این سبکهای موسیقی، در واقع با هفت مقام موسیقی امروز ایران و نه مقام امروزموسیقی تاجیکستان پیوند دارند، حتی یک بخش از موسیقی هزارهءافغانستان با موسیقی چین هم ریشه می باشد، یعنی موسیقی ما با موسیقی سر زمین های همجوار به نوعی پیوند و ارتباط دارد .

پرسش : در مورد موسیقی خرابات کابل چه نظر دارید ؟ آیا پیوندی با اصالت های موسیقی خراسانی دارد و یا کلا از هند وارد شده است ؟

پاسخ : سبکی را که در کشور عزیز ما به نام سبک هندی می شناسیم، بر خلاف تصورات عده یی از مردم، از دوران سلطنت امیر شیرعلیخان آغاز نشده ، بلکه ریشه در ادوار بسیار دور سر زمین ما دارد که سینه به سینه تا امروز شنیده می شود و آمیخته یی از سبک خراسانی و سبک هندی می باشد . هرگاه چنین نمی بود، استادان موسیقی هندوستان می بایستی فرم های موسیقی خرابات کابل را چشم بسته و بدون تفاوت اجرا می نمودند . مثلا، وقتی آهنگ معروف استاد شیدا به مطلع : " این قافله ء عمر عجب میگذرد " را از نظر علم موسیقی شناسی مورد مطالعه قرار دهیم، در واقع، به آهنگهای فلک بدخشان که در مایهء مقام " شور " خوانده می شود، مطابقت بیشتر دارد تا راگ بهرو . ویا آهنگ معروف هرات به نام " سیاه موی و جلالی " که درمقام " شور " است، نه بهروی و یا، آهنگ " جامه نارنجی " که در مقام " چارگاه " بیشتر مایه دارد تادربهرو . بنابراین، برای شناخت موسیقی سر زمین ما، دانستن ده تات هندی و راگها و راگنی ها به تنهایی کافی نیست. بلکه ریشه یابی موسیقی دوازده مقام در پهلو ی سبک هندی و سبکهای موسیقی مناطق همجوار، جوابگوی شناسایی موسیقی نا شناخته مانده ی ما بوده میتواند .

همچنان تذ کزباید داد که نمونه های بیشماری را سراغ داریم که اگر در مایهءموسیقی وطنی خود ما اجرا نشود، از طرف شنوندهء وطنی مورد پذیرش قرار نخواهد گرفت . مثل آهنگ " یا مولا دلم تنگ آمده " چون، از گذشته ها تا اکنون، پدیدهءموسیقی در جامعهء سنتی ما متأسفانه به دیدهء حقارت نگریسته شده است، بنابرآن، اگر اساسات موسیقی خرابات از استادان این ساحت برای ما باقي نمی ماند، به عقیدهء

بقیه ۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جغرافیای یک غزل

در بیت ششم (مصراع نخست) پارادوکس لفظی (و تلویحاً معنایی) در شعر است:

«گاه سوی «وفا» روی، گاه سوی «جفا» روی»

و یا هم کاربرد واژه های «زند ه گی» و «مرده گی» در مصراع نخست بیت دوازدهم ، پارادوکس است.

«بی تو نه « زنده گی» خوشم، بی تو نه «مرده گی» خوشم» .

یکی از ویژ ه گی های برتر پارادوکس در شعر- به خصوص در این غزل – روش بر انگیختن «اعجاب» و «شگفتی » در مخاطب است. مولانا با بر هم زدن هنجارهای متعارف زبانی به وسیلهء ایجاد پارادوکس در شعر و یا آوردن مفاهیم به ظاهر تناقض نما اما در باطن هنجارمند به این مسأله توجه شگرفی داشته است.

## پساساختار گرایی در غزل:

نکتهء دیگر در رویکرد های شعری مولانا – به ویژه در غزل مورد نظر – توجه به جنبهء پساساختار گرایی (Structuralism Post) است. در این شعر، مسأله «در زمانی» زبان (بر خلاف «ساختار گرایان») با هویت بیشتری دستیاب میگردد . به گونهء مثال:

«جان ز تو جوش می کند، دل ز تو نوش می کند
عقل خروش می کند، بی تو بسر نمی شود»

از بیت نخست تا پایان غزل، زبان به حیث نظامی از نشانه ها با جنبهء «در زمانی» آن در محراق توجه قرار دارد و هر واژه در بافت موضوعی اش، نمادی از مفاهیم «درزمانی» در زبان است (جان، جوش، دل، عقل و ...)

شالوده شکنی:

با تأمل ژرف می توان گفت ( و شاید هم گزاف نباشد) که مولانا از مهمترین شاعرانی در حوزهء زبان پارسی است که شعرش با رویکرد «شالوده شکنی» (Deconstruction) همخوان است؛ زیرا مولانا با شعرهای مست و مواج و جوشانش در برابر هر گونه محور گرایی (Centralism) می ایستد و با از میان بردن نقطهء مرکزی، کوشش می کند حوزه های محور گرایانه را بشکند.

با توجه به تعریفی که در کتاب « ساختار گرایی، شالوده شکنی و هرمنوتیک» اثر Gerard Burns آمده است: «شالوده شکنی ، رویکردی است به خاطر شکستاند ن مرزهای دست و پا گیر مفهوم محور گرایی – و به نحوی هم سنت شکنی- است.»

شعر مولانا با استناد بر این مسأله در بسیاری از موارد ، نفی کنندهء مفهوم محور گرایی است.

شعر «بی همگان...» بدون تردید، یکی از ویژ ه گی های بارزش، نفی مفهوم محور گرایی و تقابل شالوده شکنانه در برابر این مسأله است.

درد مولانا چیست:

سخن گفتن در بارهء «درد مولانا» با نگارش یک صفحه و دوصفحه و سه صفحه، پایان نمی یابد، بل حجمی میخواهد به اندازهء «هفتاد من کاغذ».

فکر میکنم این حجم و مقدار هم کفایت نمی کند؛ زیرا به قول آن فرزانه:

«گر بریزی بحر را در کوزه یی * چند گنجد قسمت یک روزه یی»

و درد مولانا، در دیست که در کوزهء الفاظ و تعابیر نمی گنجد؛ ولی اشارهء دردمندانه – اما جذاب – بهتر از سکوت به اصطلاح فاضلانه – اما بی خاصیت – است.

درد مولانا، درد فراق انسان از مبداء است؛ درد «جدایی نی» از" نیستان" است.

گاهی هم درد گمشدن «معشوق» در هاله یی از تردید و توهم نفس است:

«بروید ای حریفان، بکشید یار مارا
به من آورید یکدم، صنم گریز پارا»

درد جانکاه فراق و گمشده گی معشوق در هیأت «شمس» ، اندوه سراسری مولانا در پهنهء پندار است. غزل «بی همگان...» با همین چاشنی تلخ آغاز می شود و سپس در بیت های دیگر، گسترش موضوعی می یابد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بی همگان بسر شود، بی تو بسر نمی شود
داغ تو دارد این دلم، جای دگـــــر نمی شود
بی تو اگـــر بسر شدی، زیر جهان زبر شـــدی
باغ ارم سقر شدی، بی تو بسر شــــدی
بی تو نه زنده گی خوشم بی تو نه مردگی خــوشم
سر زغم تو چون کشم، بی تو بسر نمی شــود..."

تأکید موضــــــوعی مولانا در کاربرد ردیف« بی تـــــــو بشر نمی شود» قشنگترین تأثیر ماندگار در فرایند باز نمایی مسأله‌ء «درد» است.

درد مولانا در این غـــــــزل، درد آسمانیست؛ از این رو عشق مـــولانا ، عشقی از جنس عالم لاهوت است و نه دردی از جنس روزمـــــــــرگی و شکمباره گی های عالم ناسوت:

« گر تو سری قدم شـــوم، ور تو کفی علم شــوم
ور بروی عدم شـــوم، بی تو بســـــر نمی شود»

... و این هـــــم ، دردی ناشی از همان پنداشت آسمانی از عشق:

« خواب مرا ببسته ای ، نقش مـرا بشسته ای
وز همه ام گسسته ای ، بی تو بســـــر نمی شود»

## مولانا شاعر پایان ناپذیر:

مولانا، به دلیل اندیشه‌ء فراخ و وسعت نظر فکری اش، از پایان ناپذیرترین شاعران جهان است. یکی از مولفه های عامل این پایان ناپذیـــــــری در رویکردهای جهانی شـــــدن مولانا، موجودیت وسعت نظـر وی در گستره‌ء فکری است. دوری مــــولانا از محور «قبضیت اندیشه» و جهانی اندیشی در حوزه‌ء فکر و فـــــرهنگ، عامل مهم دیگری در قرائت جهانیان از اندیشه‌ء این شاعر متفکر است. بنا بر این ، موضوع پایان ناپذیری اندیشه‌ء مولانا و توجه جهانی نسبت به او، بازگو کننده‌ء میزان ارزش بزرگ مولانا در دهکده‌ء جهانی است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آوازخوان وآهنگ ساز کشور

من، شاید از موسیقی گوشه های دیگر سر زمین خویش هم بی خبر می بودیم . نمیدانم که هنرمندان ما در گذشته تا کدام عصر و زمان، در مورد موسیقی دوازده مقام چیزی میدانستند و شاگردان آن ها کی هااند ؟ آنچه قابل مکث است اینست که نمونه های موسیقي محلی یا روستایی وطن عزیز ما، ریشه های موسیقی اصیل ما را می سازند . من، طی سفری به میهن عزیز در سال ۲۰۰٦، به اساس تلاشهای شخصی یی که در این زمینه انجام دادم، و نیز با تماس ها و تفاهماتی که با یک عده از هنرمندان سبکهاي مختلف موسیقی وطن حاصل شد، توضیحات لازمه را برای مقامات با صلاحیت کشور به خاطر پژوهش لازم در این زمینه ارایه کردم.

پرسش :لطفا در همین زمینه توضیحات بیشتری بدهید ؟

